د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تألیف ریاست

# پښتو

## اتم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ. ش.

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او

درسي کتابونو د تألیف ریاست

# پښتو

## اتم ټولګی

**درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کیږي.**

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ. ش

# د بیا کتنې کمېټه

## د ژبې او محتوا کمېټه:

ـ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار
ـ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارټمنټ آمر
ـ عبید الله همت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی
ـ میرویس ځدراڼ د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی
– محمد عزیز حسین خېل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

ـ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
– محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.
ـ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.

# د څارنې کمېټه:

– دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس
– محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.
– د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

ـ صفت الله مومند او نصرالدین ناصر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د کمپیوټر دیپارټمنټ غړي.

بسم الله الرحمن الرحيم

## پېغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پیل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پیل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.
دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپېریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.
موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لړليک


| سرليک | مخ |
|---|---|
| حمد | ۱ |
| نعت | ۳ |
| د يونس بن عبيدؒ تقوایٰ | ۵ |
| خدايه! | ۷ |
| په پښتو کې د پردو لغاتو قانون | ۹ |
| د سولې ترانه | ۱۳ |
| ضميرونه | ۱۵ |
| ملي يووالی | ۲۲ |
| خپل عمل د لارې مل | ۲۴ |
| متلونه | ۲۶ |
| د نشې او عادت تر منځ څه توپير دی؟ | ۲۸ |
| غزل | ۳۱ |
| د ليک نښې نښانې | ۳۲ |
| ماشومان | ۳۷ |
| زړه مه ماتوه | ۳۹ |
| غزل | ۴۱ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| استفهامي او ربطي ضميرونه | ۴۲ |
| بخيل او فقير | ۴۴ |
| ښوونځی | ۴۵ |
| لوړ همت | ۴۶ |
| مبهم ضميرونه | ۴۸ |
| بې نيازي | ۵۰ |
| زرغونه انا | ۵۱ |
| فاتح | ۵۴ |
| د حضرت عمر فاروق ؓ عدالت | ۵۶ |
| نېک او بد | ۶۰ |
| څلوريځې | ۶۱ |
| روغتيا | ۶۵ |
| اخلاقي ښوونې | ۶۸ |
| ترهګر | ۷۰ |
| د ننګ مړ | ۷۱ |
| د ليکوالۍ لارښوونې | ۷۲ |
| پند او نصيحت | ۷۵ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| حکايت | ۷۷ |
| د ځوانانو پسرلی | ۷۹ |
| شعر که نثر؟ | ۸۲ |
| اضافي ضميرونه | ۸۳ |
| کتاب پلورونکی | ۸۵ |
| پوهنه | ۸۶ |
| تروريزم | ۸۹ |
| اشاري ضميرونه | ۹۱ |
| لويوالی | ۹۳ |
| نصيحتونه | ۹۵ |
| جد او جهد | ۹۶ |
| لطيفه | ۹۷ |
| عزت | ۹۸ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| دموکراسي | ۹۹ |
| د کورنۍ د نيکمرغۍ عوامل | ۱۰۱ |
| ټوکه | ۱۰۳ |
| دنيا ښه ده | ۱۰۵ |
| بيټ نيکه | ۱۰۷ |
| د بيټ نيکه مناجات | ۱۰۹ |
| داستان | ۱۱۰ |
| ليک ښود | ۱۱۱ |
| ښوونکی | ۱۱۸ |
| ناخپلواک منفصل ضميرونه | ۱۲۰ |
| ميرمن نيکبخته | ۱۲۲ |
| مناجات | ۱۲۳ |

# حمـد

له وهم و خياله او د عقل تصـــــور نه بهر
چېرته چې نه رسېږي هېڅكله د عـلم نظر
له دې عالمه ما ورا زمان مكـان نــه جـــلا
ټولو رنګونو، صورتونو كم وكيف نه ســوا
د حق رڼا كړي تجلى چې يې ايمان وينـــي
عقل پوه نه دی چې يې څنګه په څه شان ويني
خدايه تا نه شي پېژندی زموږ قليـــل علـــم
دا په علت معلول ولاړ زمـوږ عليـــل علم
ښاه پرک كله دغه لمر خپله رڼا كــې ويني
د لمر رڼا بس د سپوږمۍ په تجلى كې ويني
نورو كې وينو هغه څه چې يې په ځان كــې وينو
د خپل غلط قياس عكسونه په جهان كــې وينو
په آينه كې ماشومان تصوير د ځان ګوري
كوي باور چې واقعي نــور ماشومــان ګــوري
ډېر مجهولات شته چې انسان لا پېژندلي نه دي
د غيب پردو كې ډېر څه پټ دي چاليدلي نــه دي

د پر څه مو ومنل، هغه وروسته غلط وختل

د پر څه مو رد کړل چې نن علم او حکمت ومنل

زموږ مننه، زموږ رد ، زموږ انکار غلط

څه اعتبار لري زموږه اعتــبار غلط

ستا معرفت ته د بشر عقل رســـېږي کله

د انساني فکر لباس په تـــا جـــوړېږي کله

اهل عرفـان په تضـــرع "معــرفناک" وايي

موږ هغه حمد کله ویلی شو چې تاته ښایي

(اروا ښاد ګل پاچا الفت)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د حمد هر یو بیت معنا کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره یو یو بیت معنا کړي.
- زده کوونکي دې د حمد بیتونه په نثر واړوي.

# نعت شریف

سنګریزې د حرم وایي محمد رســول اللهﷺ دی

په کعبه کې صنم وایي محمد رســـول اللهﷺ دی

عصا وایي ستا په لاس چې خدایﷻ یو دی ته رسول یې

پورته عرش اعظم وایي محمد رسول اللهﷺ دی

ناقه وایي تر تا لاندې حضرت سپور دی پر مــاباندې

دواړه لوح قلم وایي محمــد رســول اللهﷺ دی

کلمــه په زوره وایي د رضــوان د ثمر پـاڼې

دلته مار و لړم وایي محمد رســـول اللهﷺ دی

پېریان وایي، انسان وایي ته بېشــکه پیغمبر یې

عرب وایي، عجم وایي، محمد رســول اللهﷺ دی

په حرم کې ستنه ژاړي، ستا وصال له خدایه غـواړي

کال د فتح زم زم وایي محمد رســول الله ﷺ دی

سپوږمۍ راغله سرګردانه، ستا ګرېوان ته له آسمانه

ستا په وړاندې هر دم وایي محمد رســـــول الله ﷺ دی

ستا اولاد "بهایي جان" دی، غزل وایي بلبل خوان دی

سپېروسترګو پرنم وایي محمد رسول الله ﷺ دی

(اروابناد بهایي جان)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د نعت شریف هر یو بیت معنا کړي.
- زده کوونکي دې د نعت شریف هر یو بیت په وار سره معنا کړي.
- زده کوونکي دې په خپله خوښه د نعت شریف څخه څو کلمې انتخاب او په جملو کې دې وکاروي.

# د یونس بن عبید ﷫ تقوی

اسلام همېشه خپلو پیروانو ته لارښوونه کوي چې د نورو د حقونو او مالونو له خوړلو څخه ځان وژغوري. تر دې چې په تجارتي کاروبار کې د بې انصافه ګټې لاس ته راوړلو اجازه یې هم نه ده ورکړې، نو هغه څوک چې واقعاً د اسلام له مزایاوو سره بلدتیا لري، د اسلام اصول او اساسات خپله کړنلاره ګڼي، نو د ناروا ګټو څخه ځان ساتي، چې د نمونې په توګه یې مثال وړاندې کېږي.

یونس بن عبید ﷫ سوداګر و، چې دوکان یې درلود، په دوکان کې یې دوه ډوله چپنې د خرڅولو له پاره ایښې وې. د یو ډول بیه څلور سوه درهمه او د بل یې دوه سوه در همه وه.

د لمانځه وخت شو نو یونس د لمانځه د اداء کولو له پاره جومات ته ولاړ او وراره یې په دوکان کې ناست و.

یو اعرابي راغی د دوه سوه درهمو چپنه یې په څلور سوه درهمو پرې خرڅه کړه، خو په لاره کې یونس په مخه ورغی او له نوموړي اعرابي څخه یې پوښتنه وکړه چې چپنه دې په څو واخیسته؟ اعرابي وویل: په څلور سوه. یونس ورته وویل: ددې چپنې بیه دوه سوه ده، راشه چې په دوکان کې دوه سوه درهمه بېرته درکړم، اعرابي وویل: دا چپنه زموږ په ښار کې په پنځه سوه درهمه خرڅېږي. زه پرې راضي یم.

یونس وویل: که ته راضي یې زه راضي نه یم چې له ټاکلي نرخ نه زیات څه واخلم.

هماغه و چې اعرابي یې بېرته راوست، دوه سوه درهمه یې بېرته ورکړل او خپل وراره یې وراته چې دغه ډول معامله بیا تکرار نشي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې له ټو زده کوونکو څخه وغواړي چې د متن په اصلي مفهوم خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لوستل شوي متن مطلب په ټو کرښو کې ولیکي او کیسه دې له یاده زده کړي.

# خـــدايـــه ﷻ!

خدايه ﷻ! دا غافله زړه مـــې تـــه بدل کـــړې

ستا د مينې او اخلاص اور په کې بـــل کـــړې

ســـتا ددې لـــويې کعبـــې لـــه بـــرکتـــه

سم مې فکر، اعتقاد، سم مې عمل کـــړې

چې د تا پاکه رضـــا شـــي پرې حاصـــــله

په هغـــه لاره مـــې هر قـــدم او پـــل کړې

يو سوچه سپين مسلمان چې را نه جوړ شي

مـــبرا مـــې لـــه ريـــا او چـــل او ول کړې

که مخلص دې د درګاه او کـــه نيکـــان دي

ربه ما په هغو ټولـــو کـــې افضـــل کـــړې

چې مصـــئون وي لـــه کينـــې او کـــدورته

دا ګردجن زړګی مې سپين لکه ململ کړې

چې بې ســـتا له ذکره فکره بـل څه نـه وي

مشـــر ف مې د خاصـانو په محـل کـــړې

اسلامي دنیــــا چې ټینګه په وحــدت کا
خدایه ﷻ! ما په دغــــه هڅه کـــې اول کړې

خدایه ﷻ! دغه ټیټ صفونه ســـره یـــو کړې
د شیطان په لار چې درومي هغه شـــل کړې

مرګ دې حق دی له مردودو مې مه شـــمېره
خو ستا پاکه نېکه لار کې مې اجـــل کړې

چې خادم شم په رښـــتیا دمســـــلمانو
ربه ستا توفیق او توان را سره مـــل کړې

(قیام الدین خادم)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې شعر زده کوونکو ته معنا کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره یو یو بیت معنا کړي.
- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې شعر په نثر واړوي.

# په پښتو کې د پردو لغتونو قانون

هره ژبه د نورو ژبو لغتونو ته اړه لري او یوه اندازه پردي لغتونه په کې موجود وي. په پښتو کې هم د عربي او نورو ژبو یو شه لغتونه راننوتي دي، مګر دغه ټول لغتونه د پښتو ژبې د قانون تابع دي، چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

١ - هغه عربی مصدرونه او لغتونه چې په آخر کې یې (الف، ه، ع، ح، و،ي) را غلي وي په پښتو کې مونث استعمالېږي، لکه: ابتدا: اوس د کار ابتدا ده.

**اصلاح**: د دووترمینځ اصلاح په کار ده.

**مفاهمه**: په هر کار کې یو تر بله مفاهمه ښه ده.

**توقـــع**: ډېره توقع لرم، چې دې ووینم.

**موضوع**: دا موضوع ډېره مهمه ده.

**اطلاع**: نوې اطلاع راغلې ده.

**تفریح**: دوی ښه تفریح وکړه.

**ترفیع**: ده سږ کال ترفیع کړې ده.

**ګفتګو**: ډېره ګفتګو مو سره وکړه.

رباعي: ده يوه ښه رباعي ليکلې ده.

۲ - د عربي ژبې هغه ټول مصدرونه او کلمې دغه شان د نورو ژبو هغه ټولې کلمې چې په آخر کې يې اصلي توري وي مذکر استعمالېږي، لکه:

**اعتدال**: په هرکار کې اعتدال ښه دی.

**موټر**: دا موټر زوړ شوی دی.

**تعصب**: تعصب بد کار دی.

۳- ټول عربي صفات چې په اصل توري ختم وي په پښتو کې د (ه) په زياتولو مؤنث کېږي، لکه:

خدمتګار- خدمتګاره، عاقل - عاقله، مالدار- مالداره، فاضل- فاضله.

۴- هغه عربي مصدرونه او کلمې چې په (ه) يا په مفتوح (ع،ح) ختم وي په آخر کې د "ې" په راوړلو جمع کېږي، لکه:

مناظره- مناظرې، طمع- طمعې، معامله- معاملې، ذبح- ذبحې، رقعه- رقعې.

۵- هغه عربي مصدرونه او د نورو ژبو کلمې چې په آخر کې يې الف" وي د (ګانې او وې) په راوړلو جمع کېږي، لکه:

(التجـا ، التجاګــانې، التجــاوې) (اشـــتها ، اشـــتهاګانې، اشتهاوې) (دعا ، دعاګانې، دعاوې)

۶- کوم نومونـه چې پـه "ع، ح" ختم وي او مخکې يې الف، واو، پېښن، د ، ی راغلی وي، دغه شان هغه نومونه چې په اوږد واو يا څرګنده "ي) ختم وي، دغـه ټول د (ګـانې" پـه راوړلـو جمـع کېږي، لکه:

اطلاع- اطـلاع ګـانې، ترفيـع -ترفيـع ګـانې، اختـراع- اختـراع ګـانې، آرزو- آرزوګـانې موضـوع- موضـوع ګـانې، ربـاعي - رباعې ګانې.

۷- هغه عربي مصدرونه او نومونـه چې پـه اصلي حرف ختم وي، ساکښ يې په "ان" او بې سايې په "ونه" جمع کېږي لکه:

علـم- علمونــه، انعــام- انعامونــه، مــوټر- موټرونــه، فاضــل- فاضلان، عالم- عالمان.

۸- کـه چېـرې عربـي مـصدرونه او نومونـه د عربـي جمعـې پـه ډول استعمال شي، نو په پښتو کې د جمع مذکر حکم لري، لکه:

ډېر موضوعات او مهم مطالب ويل شوي دي.

نوي اطلاعات راغلي دي، انعامات يې ورکړل.

**۹- که چېرې "بې، له، نا" په یوه مفرده عربي کلمه داخل شي په آخر کې يې د فتحې په ځای "ه" راوړل کېږي. په ندايي حالت کې يې په آخر کې "ه" زياتېږي، لکه:**

**بې مطلبه کار څه په کار دی. څوک مې له حاله خبر نه شو.**

**ناشکره سړی ښه نه وي، اې زما دزړه مراده!**

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د پورته لوست په هکله نور معلومات له مثالونو سره وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې داسې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي چې په (ي) باندې ختم شوې وي او بيا دې په جملو کې وکاروي.
- زده کوونکي دې د لوست له مخې يو بل ته املا ووايي.
- زده کوونکي دې په درس کې له راغلو بېلګو پرته داسې کلمې په نښه او په پښتو ژبه کې د هغو جمعې هم وښيي.

# د سولې ترانه

سوله دې ژوندۍ وي په دنیا کې سوله غواړو مونږ
سوله باندې ویاړو مونږ
بې سولې ژوندون د مرګ خطر دی هر انســـان لره
امـــــن د جهـــان لره

❋ ❋ ❋

مونږه په نړۍ کې غږ د ســولی پورته کـــــړی دی
لاس کې مو نیولي سپین دسولې بیرغونـــــــه دي
مــونږ د جنګ جګړې څنې بیزاریو جګړه نـــه غواړو
ډیر د جنګ په اور کې سوزیدلي ولســــــــونه دي

مونږه د اتل افغانســتان له هســــــکو غــرونو نه
دا آواز جـــــګ کـړی دی
سوله دې ژوندۍ وي په دنیا کې سوله غواړو مونږ
ســوله باندې ویـاړو مـونږ
بې سولې ژوندون د مرګ خطر دی هر انســـان لره
امـــن د جهـــان لـــره

❋ ❋ ❋

ګرځي مو د ګران هېواد فضا کې خپرې شـــوي دي

هره خوا کـــوترې ورســـره پیغـــام د ســـــولې دی

دا سپینې کوترې له خوښـــې نـــــه اتڼونـــــه کړي

وایې دنیــــا والـــو ته لازم دوام د ســـــولې دی

ناستې د سپین غره په سپینو څوکو باندې وایي دا

بیـــا دا رنګ غړونـــه کړي

سوله دې ژوندۍ وي په دنیا کې سوله غواړو مونږ

ســـــوله باندې ویاړو مونږ

بې سولې ژوندون د مرګ خطر دی هر انسان لـــره

امـــــن د جهـــان لـــــره

(نصر الله حافظ)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې په ټولنه کې د سولې د ټینګښت او ارزښت پـه هکلـه معلومـات وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره د سولې په هکله یوه لنډه جمله ووایي او نور زده کوونکي دې جمله په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- زده کوونکي دې د سولې د ارزښت په هکله څو کرښې پـه خپلـو کتـابچو کې ولیکي.

# ضميرونه

ضمير هغه کلمه ده چې د نوم په ځای د تکرار د لرې کولو له پاره راځي.

ضميرونه په پښتو کې په څو ډوله دي، چې مشهور ډولونه يې دادي:

شخصي ضميرونه، اشاري ضميرونه، استفهامي ضميرونه، مبهم ضميرونه، ربطي ضميرونه.

۱- شخصي ضميرونه: هغه دي چې پر يو ټاکلي شخص يعنې په متکلم، مخاطب او غايب باندې دلالت کوي. شخصي ضميرونه د استعمال له مخې په پيوست (متصل) او نا پيوست (منفصل) باندې ويشل کېږي.

**الف: متصل ضميرونه:** هغه دي چې يوازې نه راځي او تل له فعل سره پيوست استعمالېږي. متصل ضميرونه دادي:

م- د مفرد متکلم له پاره، لکه په ځم کې.

و- د جمع متکلم له پاره، لکه په ځو کې.

ي- د مفرد مخاطب له پاره، لکه په ځي کې.

ی- د مفرد مذکر غايب له پاره، لکه: ځلمی تللی دی.

ل- د جمع مذکر غايب له پاره، لکه: هلکان راغلل.

هـ - د مفردي مؤنثي غـايبې لـه پـاره، لکـه: ملالـۍ لـه خوبـه پاڅېده.

ې- د جمعې مونثې غايبې له پاره لکه ځینې نجونې پوهنځي ته ولاړې.

څرګنده "ي": په حال او مستقبل کې د مفرد، جمع مذکر او مؤنث له پاره راځي. لکه ځلمی سهار وختي له خوبه پاڅي، ملالۍ چای څښي، هلکان سبق وايي، نجونې خط ليکي.

دغه متصل ضميرونه همېشه له افعالو سره پيوست راځي، نو ځکه فعلي ضميرونه هم ورته وايي.

دغه متصل ضميرونه دوه حالته لري: فاعلي او مفعولي. په لازمي فعلونو کې د فاعل په حيث او په متعدي فعلونو کې د مفعول په حيث راځي، مګر په استعمال کې منفصل ضميرونه هم ورسره راتلای شي.

**د ضمير فاعلي حالت**

| مفرد: | | جمع: |
|---|---|---|
| متکلم: | زه ګرځم | موږ ګرځو |
| مخاطب: | ته ګرځې | تاسې ګرځئ |
| مذکر غايب: | دی ګرځي | دوی ګرځي |
| مونث غايب: | دا ګرځېده | دوی ګرځېدلې |

# مفعولي حالت

| مفرد: | | جمع: |
|---|---|---|
| متکلم: | زلمي زه وپېژندلم | زلمي موږ وپېژندلو |
| مخاطب: | زلمي ته وپيژندلې | زلمي تاسې وپېژندلئ |
| مذکر غایب: | ما دی ولیده | ما دوی ولیدل |
| مؤنث غایب: | ما دا ولیدله | مادوی ولیدلې |

**یادونه: متصل ضمیرونه یوازې په ماضي فعلونو کې مفعولي حالت لري او په حال او استقبال کې تل د فاعل په حیث راځي.**

**منفصل ضمیرونه:** هغه دي چې له بلې کلمې سره پیوست نه راځي، بلکې ځانته او جلا لیکل کېږي.

**منفصل ضمیرونه: هم پر دوه ډوله دي: یو ډول یې مستقل (خپلواک) او بل ډول یې غیر مستقل (نا خپلواک) دي.**

مستقل منفصل ضمیرونه په لاندې ډول ښودل کېږي:

**زه- ما:** د مفرد متکلم له پاره.

**موږ:** د جمع متکلم له پاره.

**ته- تا:** د مفرد مخاطب له پاره.

تاسې: د جمع مخاطب له پاره.

دى- ده: د مفرد مذکر غایب له پاره، د نژدې غایب له پاره، یعنې د درېم سړي له پاره که څه هم حاضر وي.

دا، دې: د مفرد مونث غایب له پاره.

دوی...: د جمع غایب له پاره.

هغه: دغه په زور، هغه د "غ" په زور کي- د مفرد مذکر له پاره.

هغه – هغې: د مفرد مؤنث غایب له پاره.

هغوی: د جمع غایب له پاره.

دغه ضمیرونه د استعمال له مخې بېل بېل حالتونه لري، چې په لاندې ډول بیانېږي.

۱– په دغو ضمیرونو کې "ده، دی، هغه، هغې" یوازې یو فاعلي حالت لري، یعنې یوازې د متعدي ماضي د فاعل په حیث استعمالېږي او په نورو حالتونو کې نه راځي.

لکه:

| مؤنث: | مذکر: |
|---|---|
| دې ښځکی وخوړ | ده ښځکی وخوړ |
| هغې ښځکی وخوړ | هغه ښځکی وخوړ |

**۲–** (ما ،تا): دا دوه ضميرونه په متعدي ماضي کې د فاعل په حيث او په حال، مستقبل او امر کې د مفعول په حيث راځي لکه:

| **مفعولي:** | **فاعلي:** |
|---|---|
| توريالی ما ويني | ما خط وليکه |
| توريالی تاويني | تا خط وليکه |
| ته به ما کورته بوځې؟ | |

**۳–** (زه، ته): دا دوه ضميرونه هم فاعلي حالت لري هم مفعولي، په متعدي ماضي کې د مفعول په حيث او په لازمي افعالو، او متعدي حال او استقبال کې دفاعل په حيث استعماليږي، لکه:

| **فاعلي حالت:** | **مفعولي حالت:** |
|---|---|
| زه زلمی وينم، زه ځم | زه زلمي وليدلم |
| ته زلمی وينې، ته ځې | ته زلمي وليدلې |
| زه به خط وليکم، زه تللی وم | |
| ته به خط وليکې، ته تللی وې | |

**۴–** (دی، دا، هغه) دا ضمیرونه هم دوه حالته لري: فاعلي او مفعولي، مګر فاعلي حالت یې په متعدي افعالو کې په حال او مستقبل پورې خاص دی او مفعولي حالت یې کوم اختصاص نه لري، په ماضي او حال دواړو کې راځي، لکه:

| فاعلي حالت: | مفعولي حالت: |
|---|---|
| دی خط لیکي، دی به خط ولیکي | ما دی ولید، زه دی بیایم |
| دا خط لیکي | ما هغه ولید، زه به هغه راولم |
| | ما دا ولیده، زه به دا راولم |

**۵–** (موږ، تاسې، دوی، هغوی) دغه څلور د جمع ضمیرونه د استعمال له مخې هېڅ اختصاص نه لري، په ماضي او حال کې هم د فاعل په حیث استعمالیږي او هم د مفعول په حیث لکه:

| فاعلي حالت: | مفعولي حالت: |
|---|---|
| موږ سبق ووایه | توریالي موږ ولیدلو |
| تاسې څه کوئ؟ | توریالي تاسې ولیدلئ |
| موږ خط لیکو | توریالي دوی ولیدل |

دوی به زما قلم راوړي　　　　　توریالی موږ ویني

دوی چېرته ولاړل- هغوی کورته ولاړل او تاسې نه ویني.

۶- په پورته ضمیرونو کې یوازې (زه، ته، دی، دا، هغه) ارتباطي حالت نه لري او نور ټول ضمیرونه د ښکاره نوم په شان ارتباطي حالت لري او د ارتباط له تورو سره استعمالېږي لکه:

ما- ما ته څه وایي　　　　　موږ- موږ ته خپل وطن ګران دی.

تا- له تاسره مې کار دی　　　　　تاسې- تاسې ته خبره کوم

ده- ده ته څه مه وایه　　　　　دوی- پر دوی باندې کار ډېر دی

دې- ددې کور چېرته دی؟　　　　　هغوی- هغوی ته مې کتابونه ورکړل.

هغې- له هغې نه دا پوهه ده.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د لوست له مخې پر زده کوونکو باندې د املاء کار وکړي.
- زده کوونکي دې یو د بل په مرسته د ضمایرو په حالتونو باندې د مشق او تمرین کار وکړي.

# ملي يووالی

د ملي وحدت پـه چـــــاره فکر بويـــه

په دې پاکه ښـــــکلې لاره فکـــر بويه

خدای مو يو، رسول مويو، وطن مو يـــو دی

په دې کار کې ايمانـداره فکر بويــــــه

دغه لوی افغانستان د افغان کــــور دی

په دې برخه کې هوښياره فکر بــــــويه

په بازار د اتفاق چـــې کلـــه پيښ شي

په ســــوداکـــې خريـــداره فکر بـــويه

وطـــن وايـــي په يـــوه لاره روان شـــئ

دی له تـــا نـــه طلبـــګاره فکـــر بـــويه

دوطن مـــور راته پنـــد را کوي داســې

خومره ښـــکلی مـــزه داره فکر بــــويه

چې د سـيـمې اود ژبې توپير ورک کړي

له غفلتـه شـه بيـداره فکـر بويـه

چې په يو وطن کې اوسـو نو يـو ورونه

د وطن د بـڼ ماليـاره فـکر بويـه

چې حافظ پرې خوشـحالېږي، دی يووالی

وطنـوالـه بر خور داره فکـر بويه

(حافظ)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د شعر معنا او مفهوم زده کوونکو ته ووايي.
- زده کوونکي دې د ملي يووالي په هکله څو کرښې مقاله وليکي.

# خپل عمل د لارې مل

کر د ګلو کړه چې سیـــــمه دې ګلزار شـي

اغزي مه کره په پښو کې به دې خـار شـــي

ته چې بل په غشو ولې هســـې پــوه شـــــه

چې همدا غشی به ستا په لور ګوزار شــــي

کوهـــي مـه کنـــه د بل ســـړي په لا رکــې

چېرې ستا به د کوهي په غـــــاړه لار شـــي

ته چې هر چاته په خوارو ســــــــترګو ګورې

لاړومبی به ستا صورت تر خاورو خوار شي

آدم زاد پــه مـــعنا واړه يو صــــورت دی

هـــر چـــې بـــل آزاروي هغــــه آزار شــــي

که ته نــــه کـــوې نظر د چـــا و عیب ته

هر سړی بــه ســـتا د عیبو پـــرده دار شي

د مات لوښــي اواز کلــه ثــابت خـــېږي

د هر چـــا عمل ځرګند په خپل ګفتـــار شي

نن چې صبح ده روښــــانه لار صحیح کړه

نا ګهــــانه بــــه دا صبــــح شـــب تار شي

هغه زړه به له طوفــــانه په امــــان وي

چې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

(رحمان بابا)

---

سپارښتني:

- ښوونکی دې پورتنی شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره یو یو بیت معنا کړي. او په خپلو کتابچو کې دې د شعر مطلب په ساده الفاظو ولیکي.

# متلونه

۱- بېکاري د بدبختۍ زانګو ده.

۲- بد خوی چې زوروړشي، نو عقل مروړشي.

۳- اوسپنه په اوسپنه ماتېږي.

۴- اوسپنه چې څومره ټکېږي، هغومره پخېږي.

۵- باز چې هر څومره خوارشي چونګښې نه خوري.

۶- ړانده ته شپه او ورځ یوه ده.

۷- بې مېوې ونه، څوک په ډبره نه ولي.

۸- اوبه په ډانګ نه بېلیږي.

۹- امانت ځمکه هم نه خیانتوي.

۱۰- هوښیار ته اشارت، کم عقل ته کوتک.

۱۱- پردي خواړه، یا پور دي یا پېغور.

۱۲- پر ښو، تلوار پر بدو، ز غم.

۱۳- ترخه خوره، خو ترخه مه وایه.

۱۴– لږ خوره، هوسا به اوسې.

۱۵– پلار ګټلي، زوی ته آسان دي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې زده کوونکو ته د دغو متلونود استعمال ځایونه وښيي.
- زده کوونکي دې پورتني متلونه له یادو زده کړي.
- ګرانو زده کوونکو! که چېرې مو نور متلونه زده وي په خپلو کتابچو کې يې ولیکئ او بیا دې هر زده کوونکی خپل لیکل شوي متلونه د ټولګیوالو په مخ کې ولولي.

# د نشې او عادت تر منځ څه توپیر دی؟

عادت هغه حالت ته وايي چې د انسان په وجود پورې محدودوي او د هغه پرېښودل پر وجود ناوړه اغېزه نه کوي.

نشه هغه حالت ته وايي چې سړی له ځان او چاپېریال څخه بې خبره شي او د خپلې نشې د لاس ته راوړلو له پاره پرته له نشې د بل هېڅ شي په فکر کې نه وي. دغه ډول خلک د کورنۍ او ټولنې په اوږو باروي او د نشې په پرېښودلو کې ورته جسمي او روحي ستونزې پیدا کېږي.

خلک ولې نشه کوي؟

دا چې خلک ولې نشه کوي، ډېره مهمه پوښتنه ده. د هغې عوامل او سببونه په لاندې ډول دي:

هغه پیسې چې پرته له کوم زحمته تر لاسه کېږي کېدای شي چې دغه ډول پیسې د بدو عملونو له پاره په کار واچول شي.

نوي زلمیان ډېر زیات د ملګرو او خپلوانو په وسیله چې ورسره ناسته ولاړه لري په مخدره موادو اخته کېږي او وروسته پرې روږدي کېږي.

هغه خلک چې د نشه يي موادو د پېرلو او پلورلو چاره تر سره کوي، د خپل کار د ښه والي له کبله يې په پيل کې ډېرو زلميو ته وړيا ورکوي. او په دغه ناوړه عمل يې اخته کوي، چې بيا يې وروسته ور باندې پلوري.

تنکيو ځوانانو ته د مور او پلار نه پاملرنه، چې دغه کار په زلميو کې د محروميت احساس پيدا کوي او دغه محروميت اوبې برخې کېدل ورته يو ډول روحي ستونزې مخې ته دروي، چې کيدای شي دغه ډله ځوانان هم په نشې اخته او خپل ژوند د نشو په دودونو کې تور او ککړ کړي.

په ځينو وختونو کې ځينې ځوانان د غير علمي خبرو له مخې چې ګڼي نشه يي توکي جنسي قوت زياتوي، په نشه يي موادو معتاد کېږي. نو ځوانان بايد په داسې بې ځايه او بې علمه خبرو و نه غولېږي.

هغه ځوانان چې په نشه يي موادو معتاد وي، هېڅوك ورته د كاركولو لارې چارې نشي برابرولی. او که چېرته څوک پرې تېر وځي ډېر ژر يې له دندې څخه لرې کوي، ځکه چې نشه يي سړی خپله دنده لکه څنګه چې ښايي په ښه توګه سرته نشي رسولی.

نشه يي سړی يو ډول سترړی او ستومانه ليدل کېږي او له کار څخه د تيښتې په لټه کې وي. کورنی ژوندیې له يوې مخې برباد شوی وي. د خپلې کورنۍ حقوق په ښه ډول نشي برابرولی. کوم شی چې لاس ته راوړي هغه ورنه په خپله نشه لګېږي. که چېرته ور ته د کار او مزدورۍ له لارې څه شی پيدا نشي، نو بيا د خپلې نشې د دودولو له پاره په هيڅ شي او غير قانوني کار لکه غلا او نورو لاس نه نيسي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د نشه يي موادو د بدو پايلو په هکله معلومات ور کړي.
- زده کوونکي دې د نشه يي موادو د زيانونو په هکله معلومات وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې د نشه يي موادو د زيانونو په هکله يوه لنډه مقاله وليکي.

پوښتنې:

١. نشه يي خلک ولې خپل ورځيني کارونه په سمه توګه سرته نه شي رسولی؟
٢. نشه څه ډول حالت ته وايي؟

# غـزل

دنیا دا رکه مستغني په سیم و زر دی
هنر مندو سره ګنج د خپـل هنــــر دی

بیهوده به زورور و ځـــــان تــه وايي
د دنیـــا سړی که هـــر څو زورور دی

جوداني قدر یو لعل پکې پیـــدا شـي
نور جهان واړه د تورو کاڼو غــــر دی

که د عمـــر و رفتن ته څـوک نظر کا
دا به وایي چې آفتــاب د مازدیګر دی

تعجب زما د ډېرو اوښکو مه کــــړه
ما موندلی په دا بحر کې ګوهـــر دی

دریا خرقه یې خدای ﷻ مه کړه په غـــــاړه
"رحمـــان" کوږ پټکی تړلـــی قلندر دی

(رحمان بابا)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د پورتني شعربیتونه معنا او په مطلب دې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د شعر اصلي مطلب په څو کرښو کې ولیکي.

# د لیک نښې نښانې

د لیک دود د ښه والي په لړ کې، ځینې علامې او نښې نښانې هم شته، چې په هره لیکنه کې د هغو خیال ساتل ضروري دي. بې نښو نښانو لیکنه د لوستونکو له پاره ډېرې ستونزې پیدا کوي او په ځینو ځایونو کې ترې سمه معنا هم نه اخیستل کېږي، له دې کبله غواړو چې دغه نښانې په لنډ ډول بیان کړو، تر څو چې لیک دود نیمګړې پاتې نشي.

۱- **ټکی** (٠): دا نښه د پوره جملې په پای کې ایښودل کېږي او د جملې تماموالی ښیي، لکه: له پروت زمري نه ګرځنده ګیدړ ښه دی.

نېک عمل د لارې مل دی.

(٠) دې نښې ته (ټکی) وایو.

۲- **چپه پېښ** (،): دا نښه د یوې لنډې وقفې له پاره پکارېږي. په یوه جمله کې چې سړی غواړي لږ غونډې ځنډ وکړي، نو دغه نښه راوړل کېږي. مګر زیاته د کلمو او نیمګړو خبرو تر مینځ د عطف له پاره راځي.

**لکه**: زلمی، توریالی، تورپېکۍ او ګل مکۍ په امتحان کې بریالي شول.

**۳- ټکی او چپه پېښ** (؛): دا نښه د زياتې وقفې له پاره په کارېږي، مګر د کلمو تر مينځ نه راځي، بلکې د هغو مرکبو جملو په مينځ کې راوړل کېږي چې په معنا کې يو له بله تړلې وي، لکه: له هغه علم څخه چې اخلاق ورسره نه وي؛ ناپوهي غوره ده.

(؛) دې نښې ته په پښتو کې ځنډکۍ (ځنډ نښه) وايو.

**۴- دوه ټکــي** (:) : دا نښه د يوې سپړنې او څارنې علامه ده، يعنې د هغې کلمې يا جملې په پای کې ليکل کېږي چې وروسته ور پسې شرح او تفصيل راځي. لکه: د ژوندانه د کاميابۍ ستنې دادي: پوهه، روغتيا، روزنه او اخلاق. په پښتو کې ډېر لوی شاعران تېر شوي دي لکه: ښکارندوی، ريدي خان مومند، خوشحال خان او نور.

**۵- د پوښتنې نښه**(؟): دا نښه د سوال او پوښتنې په وخت کې راوړل کېږي. يعنې د هر ډول سواليه جملو په پای کې راځي لکه بې عمله علم څه په کار دی؟

**٦- ندائيه**( ! ): دا نښه د غږ او ندا په وخت کې پکارېږي لکه: اې زلميه! دلته راشه!

مګر په اصل کې د خبردار او تنبيه نښه ده او په دې وجه د مخاطب امر په پای کې هم راځي، لکه:

وروڼو ملا وتړئ! د وطن ناموس وساتئ!

دغه نښه د حيرانتيا او تعجب، شا باش او افسوس په ځای کې هم راوړل کېږي، يعنې په هر ځای کې چې خبرداری او تنبيه غرض وي، هلته ور څخه کار اخيستل کېږي، مګر د زيات تعجب او خبردارۍ په وخت کې دوه ځله، درې ځله ليکل کېږي لکه: آفرين! په دې توره او مېړانه!!، افسوس! چې ډېر ښه وخت مې له لاسه ووت!، واه! څومره ښکلې مرغۍ ده!!

کله چې پوښتنه او تنبيه دواړه مطلب وي، نو د پوښتنې او تنبيه نښې دواړه يو ځای راځي لکه:

د خدای دپاره دا څه حال دی؟!

**۷- کش (-)**: دا نښه د يوې جملې د بېلونې له پاره ليکل کېږي. په سوال او ځواب کې د هرې جملې په سر کې راځي او سوال او ځواب سره بېلوي، لکه:

زلمي وويل: توريالیه! څه کوې؟

- خط ليکم.

چاته؟

- خپل ورور ته.

دا به د دوو کلمو د بېلوالي له پاره هم په داسې وخت کې راځي چې د هرې کلمې خپلواکي، ځانله والی مقصد وي لکه: صرف- نحو- بديع- بيان

**۸- دوه غبرګکشونه** (=): دا نښه د دوو نومونو یا خبر و د برابرۍ او مساوات ښودلو له پاره راځي لکه:

۲+۲=۴

**۹- لیندۍ** ( ): دا نښه د خاصو نومونو، د پام وړ شیانو او په مینځ کې را لوېدلو جملو د ښودلو له پاره لیکل کېږي لکه:
زه غواړم سبا ته له زمري سره (چې زما یو ښه ملګرى دى) د کابل موزیم وګورم. زما ورور (احمد) په ټولګي کې اول لمبر دى.
دې نښې ته لیندۍ وایو.

**۱۰- دوه غبرګې لیندۍ** (( )) : ددې نښې په مینځ کې د بل چا خبره، نظریه یا د یو کتاب عبارت او یاد زیاتې توجه وړ نا آشنا کلمې راوړل کېږي لکه سید جمال الدین افغان وایي:

"هر پر هېز ګار عالم که چېرې د شریعت په اساس کې فکر وکړي، نو دا به ورته معلومه شي چې د ژوندانه علمونه له دین سره هېڅ مخالفت نه لري."

**۱۱- څوټکي** (...): کله چې یو لیکونکى د یو نوم یا یوې خبرې څرګندول نه غواړي، نو په ځاى یې یو څوټکي ږدي او ورځنې تېرېږي، لکه:
ماته د پښتو... ښه معلوم دى.

**۱۲- درې ستورې** (***): دا نښې د يوې رسالې يا يوې مقالې د يوې برخې د تماميدو او د بلې برخې د پيل کيدو په مينځ کې ليکل کيږي، يعنې يو بحث له بل څخه بيلوي.

**۱۳- که چيرې يو نوم يا يوه جمله په خاص ډول د پاملرنې وړ وي، نو لاندې ترې يوه اوږده کرښه راښکل کيږي لکه: زلمی او توريالی زما کلک ملګري دي. ښاغلو! دلته دريدل منع دي.**

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د ليک نښې نښانې په زده کوونکو باندې په جملو کې تمرين کړي.
- زده کوونکي دې يو بل ته جملې ووايي او بيا دې په کې د ليک نښې نښانې مراعات وکړي.

# ماشومان

موږ ناست وو. ماشومانو زموږ له څنګه لوبې کولې.

کله به يو له بله و نښتل. زوږ، چغې به جګې شوې ژړا، انګولا به شوه.

کله به د خندا شور او زوږ دومره اوچت شو چې په عذاب به يې کړو.

يوه به چې د بل د لوبو شيان ګډوډ کړل. هغه به په قهر شو او کنځلې به يې کولې. زموږ پام نه و، يو را پاڅېده، د بل مخ يې شوکارې کړ. د هغه په مخ وينې وبهېدلې او له مستۍ نه جنګ جوړ شو.

موږ ويل: خير دی، واړه دي، نه پوهېږي.

زموږ لويوالي دا تقاضا درلوده، چې د کوچنيانو طفلانه لوبې هېڅ و ګڼو او ملامت يې نه کړو. ماشومان د عمر او وجود په لحاظ په رښتيا له موږ نه واړه دي. مګر دومره واړه نه دي لکه موږ چې د خدایﷻ په دربار کې واړه يو.

د ماشومانو پوهه به له موږه لږه وي، مګر زموږ پوهه د خدایﷻ په حضور کې هېڅ ده.

هلته موږ له ماشومانو نه ډېر واړه او زموږ پوهه ډېره لږه ده. زموږ لوبې هم د وړو غوندې دي زموږ خندا او ژړا هماغسې ده.

ماشومان پوهېږي چې واړه یو او موږ، نه پوهېږو.

راشئ چې په دې خبره ډېر خوشحاله شو او د لوی خدای ﷻ لویوالي ته په ډېر امید وګورو.

**(د استاد الفت له غوره نثرونو نه)**

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د لوست په اصلي مفهوم باندې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست له مخې یو بل ته املا ووایي.

# زړه مه ماتوه!

زړه هغه شیشه نه ده چې تر ماتېدو وروسته پترې ومني او نه باید له زړه سره طفلانه لوبې وشي.

هر زړه ځانته عالم لري او د زړه عالم، تر نورو عالمونو، ډېر پاک دی، نو دا پاک عالم، په یوه نا سنجیده خبره او بې سنجشه کار له ځانه بېګانه کول، د پوهانو کار نه دی. پوهان وایي: "له غرونو لوېدلی ښه دی، نه له زړونو لوېدلی."

که هر څو لوی شې، خو بیا هم د زړه عالم ته کوچنی یې. لويي، دبدبه، جاه و جلال د زړه عالم تېتولی نشي، د زړه عالم له ظاهري او نمایشي عالمه ډېر هسک او اوچت دی، نو مه پرېږده چې لويي او غرور ستا سترګې د یوه غریب زړه له عالمه پټې کړي او په یوې بې رحمه خبرې د غریب د زړه د ماتولو کوښښ وکړي.

که ته زړه لرې نو د زړونو د عالم سره مه نا آشنا کېږه. که ستا د عزت، شوکت، ثروت او بډایي ساتل زده وي، نو د زړونو ساتل هم زده کړه.

که سړی له یوه لوړ مقامه ولوېږي، دومره ډېر د تاثر ځای نه دی، یا که د حشمت او دبدبې له کټه راپرېوځي دومره بده نه ده، خو چې له زړونو لوېدلی نه وي.

خدای ﷻ دې نه کوي که څوک له زړونو ولوېد ، نو د ملیونونو زړونو په مینځ کې به ځان یکه او تنها ویني او د ډېرو زړونو په مینځ کې به، دیوه زړه سره هم آشنا نه وي.

نو مه ماتوه، د چا زړه مه ماتوه!

او څو چې دې وس وي، د هر چا زړه ساته، په تېره بیا ، د یوه غریب، مظلوم او ستمدیده زړه!

---

سپارښتنې:

- ښاغلی ښوونکی دې د لوست په اصلي مطلب خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د لاندې جملې په اصلي مطلب خبرې وکړي.
- (له غرونو لوېدلی ښه دی، نه له زړونو لوېدلی.)
- زده کوونکي دې دلوست مفهوم په څو کرښو کې ولیکي.

# غــــزل

شــګفته وي همېشـــــه ګلزار د صبر
بې خزانه وي مــدام بهــار د صـــبر

کار د عقل، د طـالع خلل پذيــر وي
استواره تر هر کــار وي کار د صــبر

هر يو کار به ورته سپک و هيڅ ښکاره شي
که په سر باندې څوک واخلي بار د صبر

وبه نه وينـــې آســـيب له زمانې نـــه
که پېشـــه دې خپله کړه روزګار د صبر

که يې تېر کړې ته يو ځل ګنډېر تر حلقـه
خوند به درکه شهد وار په وار د صبر

که په غـــاړه کې جامــه نلرې څه شـــو
چې يې وتاړه په سر د ســتار د صـــبر

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د شعر معنا او مفهوم زده کوونکو ته توضيح کړي.
- زده کوونکي دې د شعر مطلب په نثر واړوي.
- د صبر په هکله دې څو کرښې مقاله وليکي.

# استفهامي او ربطي ضميرونه

استفهامي ضميرونه هغه دي چې د سوال او پوښتنې په وخت کې استعمالېږي او په لاندې ډول ښودل کېږي، لکه:

(**چا، څوک**): د اشخاصو له پاره راځي. (چا) د ماضي متعدي په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کې او (څوک) په نورو حالتونو کې استعمالېږي.
مثالونه يې دادي:
چا سبق ولوست؟ - چا خط وليکه؟ چا ته وايې؟ دا سړی د چا ورور دی؟ څوک راغلی دی؟
(**څه- څومره، څو**): دغه درې واړه ضميرونه په درې واړو حالتونو کې راځي، لکه:
څه شي وچيچلې؟ تا څه واخيستل؟ له څه و ېرېږې؟

دا قلم دې په څو واخيست؟ څومره اخلې؟ څو وم، څو ومه- کوم- کومه؟ دا هم استفهامي ضميرونه دي مګر هغه وخت چې مرجع ور سره نه وي ذکر شوې، لکه: څو وم دې په کار دی؟ څو ومه غواړې؟ کوم دې په کار دی؟ کومه غواړې؟

په پښتو کې يو ډول ربطي ضميرونه هم شته چې په جملو کې د ربط دنده تر سره کوي لومړی جمله له دوهمې سره تړي. دغه

ضميرونه زيات له دوو ټکو څخه جوړ شوي دي، مثالونه يې په لاندې ډول دي:

څوک چې: څوک چې بد ګرځي، بد به پرځي.
چاچې: چاچې کار وکړ، ګټه به مومي.
څه چې: څه چې کرې ، هغه به رېبې.
څومره چې: څومره چې خوړلی شې وخوره!
هر څه: هر څه چې وايې وايه.

د (ترې، ترينه، ځينې، پرې، په کې) کلمې هم د ربطي ضميرونو وظفيه اجراء کوي، مثالونه يې دادي:
ترې- ترينه: قلم ترې واخله. يا قلم ترېنه واخله.
ځنې: پوښتنه ځنې وکړه.
پرې: زما پرې روپۍ دي.
پکې- زلمی پکې ناست دی.

دغه کلمې په اصل کې د دې کلمو (ترده، له ده، په هغه کې) په ځای په مخفف ډول استعمالېږي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د استفهامي او ربطي ضميرونو لوست په غور سره ولولي او لاندې ربطي ضميرونه دې په جملو کې وکاروي.
  (څوک چې، چاچې، څه چې، څومره چې، هر څه )

# بخیل او فقیر

یوه فقیر له یوه بخیل بډای څخه څه وغوښتل، ورته ویې ویل: یو څه راکړه!

**بخیل** ورته وویل: که ته زما یوه خبره ومنې نو بیا چې هر څه غواړې، زه به یې درکړم...

**فقیر** وویل: په سترګو، منم یې، کومه خبره ده؟

**بخیل**: خبره داده چې هېڅکله له ما څخه څه مه غواړه!!

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د بخیل سړي په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

# ښوونځی

جهان بوله ښوونځی! ما زده کوونکی!
حقیقت کې مې الله اصلي ښوونکی!
د ژوندون په مدرسه کې مې لوستلي:
هر نبي او پیغمبر و لارښوونکی!
مور په مینې، مُحبت ژبه را زده کړه!
کنه، چېرې به اوس زه وای ګړېدونکی؟!
د قلم، کتاب پر ژبې معلم پوه کړم!
دهغه له برکته یم لوستونکی!
په وزرو د تخنیک الوزي فضا ته!
د آدم نسل کیهان کې دی پلټونکی!
علم، پوهه لوی دریاب، زه ماهوګی یم!
طوفانو کې د روزګار نه ډوبېدونکی!
څو ژوندی یم پر دنیا زده کړه کومه!
زه تحریک یم کوشښي او زیار اېستونکی!!!

(محمد عزیز تحریک)

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د درس مفهوم او معنا زده کوونکو ته توضیح کړي.
- زده کوونکي دې د ښوونځي د اهمیت په باب لنډه مقاله ولیکي.

# لوړ همت

سیم وزر په ملک کـــــې نلرم نا داریم

په دولـــت د زړه تر حـــده دنیـــا داریم

وظیفـــه د حـــق له دره را رســـــــیږي

نه د سپي غوندې طامع د بل در باریم

د مخ آب مـــې په سوال سره توی نشـــو

پوشـــیده په صدف دُر غوندې آبدار یم

قنــــــاعت له نا اهلانو بې پروا کـــړم

په دې ګنج سره سرخروی لکه انـــار یم

زیست روزګار مې د دنیا په توکـل دی

مشرک نه یم په توحید ســـــره اقرار یـم

دا ر مــدار د هېڅ ظالم کولـــی نشم

ځکه تل د هر خود بین د سترګو خاریم

تر همای بلند نظریم که بــــــاور کړې
کر ګس نه یم چې جـیفې ته هوا داریم
نه مګس یــم چې پر غوړه کاسه نښلم
نه دعــوت و تــه د چــا په انتظار یــم
د اغیار په صورت اور یم چې لګــېږم
لکه ګـل ترو تازه په لاس دیـــــار یم

(رحمان بابا)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره د شعر یو یو بیت ولولي او بیا دې معنا کړي.
- زده کوونکي دې د لوړ همت په هکله څو کرښې مقاله ولیکي.

# مبهم ضميرونه

په پښتو کې ځينې مبهم ضميرونه هم شته چې د يو نامعلوم شي يا شخص پر ځای استعمالېږي او پر دوه ډوله دی: بسيط او مرکب.

۱ـ بسيط مبهم ضميرونه دادي:

**څوک**: څوک کا رکوي او څوک ساعت تېروي.

**چا**: چا کار کړی دی او چا نه دی کړی.

**څه**: څه دادي او څه نور دي.

**څو**: څو يې مړه شول او څو يې پاتې دي.

هېڅ: دلته هېڅ نشته.

۲ـ مرکب مبهم ضميرونه ډېر او يو څو يې دادي:

**هرڅوک**: هر څوک خپل کار کوي.

**هر چا**: هر چا پکې خبرې وکړې.

**هر څه**: دلته هر څه پيدا کېږي.

هېڅوك: هېڅوك نه وايي چې زه نا پوه يم.

هېچا: هېچا ته څه مه وايه.

**هر یو:** هر یو وايي چې زه من یم.

**بل یو:** بل یو هم نشته.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې لاندې ضميرونه په مناسبو جملو کې راوړي.

(څوک، چا، څه، څو، هیڅ)

# بې نیازي

څــــوک چې نلري یو بـــــل ته امیــــدونه
د هغه په کو رکې خدای ﷻ ایښي ګنجونه
له عالمـــــه بې نیــــاز هغه کســـــان دي
چې یې کم کړه په دنیا خپـــــــــل حاجتونه
د دنیا جاه و جـلال ورته هېڅ ښـــــکاري
په دمــــــاغ کې شــــي پیدا عالي فکرونه
ذایقه، اشـــتها فکر چـــــې بــدل شـــــي
هغه نـاخلي له دنیــــا نه ډېرخــــوندونه
د معنا د خــــــاوندانو په نظــــر کـــــې
د دنیا د عـــــزت نشـــــته ډېر قـــــدرونه
څوک چې مست شي د مولا په مینه باندې
د هغه زړه کـــــې وي کله نـــــور شــــوقونه

سپارښتنې:

- زده کوونکي دې پورته شعر په نثر واړوی.
- د لاندې جمع کلمو مفرد شکل دې ولیکي:

امیدونه – ګنجونه – حاجتونه – فکرونه – خونـدونه – قدرونه - شوقونه

# زرغونه انا

زرغونه انا د اعلیحضرت احمد شاه بابا مور وه، چې دا پښتنه مېرمن ددې لویو هسکو غرونو په لمنو کې د پښتونوالي یوه ښه محرکه بلل کېږي.

زرغونې انا ددې پاکې خاورې د خدمت او لوړوالي له پاره یو داسې نابغه زوی لکه احمد شاه بابا ملت ته وړاندې کړ، چې د ملت له خوا د "بابا" لقب ورکړل شوی دی، همدا رنګه دې مېرمنې د "انا" لقب ګټلی دی او تراوسه پورې یې په پښتني دنیا کې نوم ژوندی دی.

زرغونې انا تل د خپل زوی احمد شاه بابا سره په ښو افکارو کې مرسته کوله.

لکه په خپلو پاکو شیدو کې، چې یې د افغانیت غذا ورکوله، همدا شان یې د افغانیت او غیرت درس په خوله ور ښوده.

په (۱۱۷۴هـ) کال، چې احمدشاه بابا د پښتنو مشران او نور ارکان را وبلل چې د کندهار د نوي ښار د جوړولو له پاره یوه سمه او صحیحه نقشه طرحه کړي، تر ډېر و نظریو وروسته یې دا نظریه

خوښه شوه، چې ښار باید اووه دېوالونه او څو خندقونه ولري، چې د دښمن له حملې څخه خوندي شي.

دا نظريه ټولو ومنله، مګر له دغه حال څخه زرغونه انا خبره شوه. اعليحضرت احمدشاه بابا يې کورته وغوښت ورته ويې ويل:

زويه! دا خبر ټينګه په غوږ کې ونيسه، چې افغان هېڅکله د خاورو دېوالونو ته پنا نه وړي او نه په خندق ځان له غليمه خوندي کوي. افغان د خدایﷻ په مرسته او په خپل مټ ځان او وطن ساتي، نو په خپل افغاني همت او استقامت به ځان، خلک او وطن وساتې... خوشې دېوالونه او خندقونه مه جوړوه! په دې دېوالونو به يوازې زه او ته خوندي شو، هغه خويندې او ورونه دې، چې ددې خندقونو او دېوالونو، هغه خواته دي، هغه نو له تا څخه ساتنه نه غواړي؟ او هم ته، بايد دومره انتظار و نه باسې چې دښمن تر ښاره پورې را ورسېږي! هغه و چې د احمدشاه بابا له مغزو څخه هغه مفکوره ووتله او يوه معمولي کلايې جوړه کړه.

همدا شان نقل کوي چې: په (۱۱۷۴ هـ) کال د احمدشاه بابا د ماتې غږ په دروغو کندهار ته راورسېد، خلک د احمد شاه بابا له ماتې او د عسکرو د پناه کېدو له آوازې وا رخطا ښکارېدل، څو دا خبره زرغونې انا ته ورسېده.

دې مېـرمنې وويـل: بـرى او مـاتې د تقـدير پـه لاس كـې ده. مګـر، احمد، ځان وژنې او ماتې نه کوي.

زرغونه انا د کندهار د ښار له جوړولو وروسته د احمد شاه بابا په ژوند وفات شوې ده. احمد شاه بابا پـه (۱۱۸۶هـ) کـې وفـات شـوى دى.

---

سپارښتنې:

- ښوونکى دې د زرغونې انا په هکله زده کوونکو ته معلومات وړاندې کړي او د دې نورې کارنامې دې زده کوونکو ته ووايي.
- ښوونکى دې د احمد شاه بابا په هکله زده کوونکو ته د ده د فتوحاتو، د شعر او شاعرۍ په باره کې معلومات ور کړي.
- زده کوونکي دې د زرغونې انا او احمد شاه بابا په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

# فـــاتح

سکندر له ډېر قوت او له ډېرو لښکرو سره ښار ته راغی. لـه خلکو سره يې څو ځله زورور جنګونه وکړل.

له دوارو خواوونه، ډېر خلک ووژل شول، ډېرې وينې توېې شوې، ډېرې ککرۍ تر پښو لاندې شوې. وروسته له ډېرو جګړو هغه د مړو په سرونو، پښې کېښودې او دلوی فاتح په حيث ښار ته ننوت.

دی ډېر په قهر و. ده غوښتل چې ښار لوټ کړي او قتل عام جوړ کړي، مګر دا کار ده ونه شو کړی، ځکه چې په ښار کې يو پټ قوت موجود و، چې ده ورسره مقابله نشوه کولی. دی چې ښار ته ننوت په يوې ډېرې ښکلې پېغلې يې سترګې ونښتې او په يو ځل ليدو يې زړه بايلود.

څوک چې بې زړه شي هغه بيا جنګ او جګړه نشي کولی ځکه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پېغلې ته وسپاره.

دغه لوی فاتح چې د عشق او مينې په پنجو کې ګير شو. بل راز شو او د خپلې معشوقې د خوښۍ له پاره يې د ښار د خلکو خدمت ته ملا وتړله.

دغه وخت، معلومه شوه چې دی فاتح نه و، فاتح بل څوک و.

دی په دې نه پوهېده، چې په ډېر زور او قوت خپل ځان، يوه داسې قوت او قدرت ته سپاري، چې له سلطان او شهنشاه نه د خلکو خدمتګار جوړوي.

په رښتيا چې د عشق مقام ته رسېدل هم څه آسانه کار نه دی او د ښکلا په دربار کې، پادشاهان هم په تعظيم او احترام سر ټيټوي.

هلته محمود د اياز تابع دی او سکندر هم په يوه نظر بل راز کېږي او قهراو غضب خپل ځای مينې او محبت ته پرېږدي.

(د استاد الفت له غوره نثرونو څخه)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د لوست په اصلي مفهوم باندې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د دې متن اصلي مفهوم په څو کرښو کې وليکي.

# د حضرت عمر ﷛ عدالت

حضرت عمر ﷛ د خطاب زوی او د رسول الله ﷺ د لویو صحابه وو له ډلې څخه و، چې په (۱۳هـ) کال د حضرت ابو بکر صدیق ﷛ تر وفات وروسته یې د خلافت د چارو واګې په لاس کې واخیستل.

د حضرت عمر ﷛ د خلافت په وخت کې د فتوحاتو لمنه ډیره پراخه شوه او ډیرې سیمې د اسلامي خلافت تر قلمرو لاندې راغلې. په دې ټول قلمرو کې امن او امان، سکون او اطمینان موجود و او سبب یې د حضرت عمر ﷛ سیاست، تدبیر، عدل او انصاف و. حضرت عمر ﷛ د اسلامي حکومت ستنې، چې بنسټ یې د حضرت پیغمبر اکرم ﷺ په مبارکو لاسونو ایښودل شوی و، داسې ټینګې کړې، چې نړېدل یې ممکن نه وو او د اسلامي عدل پر بنا یې د خلافت چارې داسې تنظیم کړې، چې د نړۍ هېڅ یوه نظام ور سره سیالي نشوای کولی.

حضرت عمر ﷛ د خپل خلافت په ټوله موده کې د یو ویښته په اندازه د عدالت له لارې تجاوز ونه کړ، ماړه او غریبان، د قومونو لویان او په ټولنیز لحاظ ډېر واړه خلک د هغه په وړاندې یو شان وو.

• یو ځل یې د حج په ورځو کې ټول مامورین راوغوښتل او په عامه غونډه کې ودرېد او ویې ویل: که څوک له دوی څخه شکایت لري؟ و دې وایي. په دې غونډه کې د مصر والي عمر و بن عاص ﷺ او نور لوی لوی مامورین هم حاضر وو. یو کس ودرېد او ویې ویل چې فلاني حاکم پرته له کومه جرمه سل درې ووهلم.!

حضرت عمر ﷺ وویل: پاڅۍ او خپل کسات ترې واخله.

حضرت عمر و بن عاص ﷺ وویل: اې امیر المومنینه!

په دې کار سره به ټول حاکمان بې زړه شي.

حضرت عمر ﷺ وویل: پرته له دې بله لار نشته.

او عرض کوونکی ته یې وویل چې پاڅۍ خپل کسات ترې واخله!

آخر عمر و بن عاص ﷺ د عرض کوونکي څنګ ته ورغی او هغه یې په دې راضي کړ، چې سل دیناره واخلي او ابرا ورکړي.

• یو وخت د قریشو رئیسان د حضرت عمر ﷺ دلیدلو له پاره راغلل. اتفاقاً صهیب، بلال او عمار ﷺ او ځیني نور کسان هم حاضر وو، چې زیاتره یې آزاد شوي مریان وو. حضرت عمر ﷺ لومړی دوی خپل حضور ته ومنل او د قریشو رئیسان منتظر پاتې شول. پر ابو سفیان ﷺ چې د جهالت په وخت کې د خپلې قبیلې رئیس و دا کار ډېر ګران تمام

شو او ويې ويل: سبحان الله مريانو د خلافت د دربار اجازه ومونده او موږ انتظار باسو. د يو شمېر نورو کسانو، چې د ابو سفيان هم فکره وو، دا کار خوښ نشو. خويو شمېر نورو چې حق پېژندونکي وو، وويل: موږ بايد له حضرت عمر ﷺ نه شکايت ونه کړو، اسلام ټولو ته په يوه آواز بلنه ورکړه ځوک چې له خپلې بدبختۍ نه وروسته پاتې شول نن هم بايد وروسته پاتې شي.

- د قادسيې له جګړې نه وروسته چې د عربو قبايلو تنخواګانې ټاکل کېدې ټول قبيلوي امتيازات يې له نظره وغورځول او يوازې اسلامي ځانګړتياوې يې په نظر کې ونيولې.

په دې وخت کې يې د اسامه بن زيد تنخواه د خپل زوی عبد الله تر تنخواه زياته وټاکله، عبد الله وويل:

والله اسامه په هېڅ جنګ کې تر ما نه دی مخکې شوی.

حضرت عمر ﷺ وويل: مګر هغه پر رسول الله ﷺ تر تا ډېر ګران و.

- يو ځل د غنيمت مال راغی، ام المؤمنين حضرت حفصه ﷺ چې د حضرت عمر فاروق ﷺ لور او د حضرت رسول اکرم ﷺ بي بي وه، د خپل پلار حضورته ورغله ويې ويل: څه چې زما حق وي رايې کړه! حضرت عمر ﷺ وويل: لورجانې! ته زما په خاص مال کې حق لرې دا د غنيمت

**مـال دی، تـه غـواړې چـې خپـل پـلار پـه مغالطـه کـې واچـوې؟ حضرت حفصه رضي الله عنها حیرانه شوه، له خپل ځایه پاڅېده او ولاړه.**

---

❖ ښوونکی دې زده کوونکو ته د اسلامي نظام په برخه کې د عدالت ونډه تشریح کړي.

❖ زده کوونکي دې د عدالت په هکله څو کرښې مقاله ولیکي.

| **لغتونه:** | **معناګانې:** |
|---|---|
| واکې | چارې، اختیار |
| کسات | بدل، انتقام |
| سبحان الله | پاکي ده خدای جل جلاله لره. |

# نېک او بد

که امید لـــــرې له رحـــمه لـــه کرمـه

ســـــتا هم بويه په هـــر چا بـــاندې کرم

د هر چا ســـــــره چې کړې هغه به مومې

دهېڅ تخم مېـــوه نه درومـــــي برهم

اوس د استا رضا نيکي کړې که بدي کړې

نېک و بد دې دواړه ښکوی شي په قـــلم

(رحمان بابا)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره يو يو بيت ولولي او بيا دې معنا کړي.
- زده کوونکي دې د نيکۍ د ښه والي او د بدۍ په ناوړتياوو څو کرښې وليکي.

# څلوريځې

که سپين او سره يې په کور کې تل وي
چې نه يې علم نه يې عمل وي
بنياد يې نشته آخر به خوار شي
بخت به ترکومه ورسره مل وي
"عبد القادر خټک"

طامع همېش وي په انتظار کې
آب يې د مخ ځي په هر ديار کې
ګنج چې د صبر "پير محمد" بياموند
توانګر باله شي په دا ديار کې

(پير محمد کاکړ)

ځوانمرد هغه دی چې لکه شمع
د ځان په سولو مجلس کا جمع
د بل دپاره که په خندا وي
په مخ يې درومي باران د دمع[1]
(عبد القادر خټک)

---

(۱)- دمع: اوښکې.

ژبــه عـــادت کړه په ښـــــو خبرو
خبرې ښـــې دي ښـــې تر شـــکرو
د خوند مثـــال يې شـــکرې وايم
قدر يـــې ډېر دی تـــر مرغـــلرو

(عبد القادر خټک)

دا پند له مانه په زړه کې يـــاد کړه
څو دې لاس رسي مروت، داد کــړه
زړونه د هرچا په احسان ښـــاد کړه
آزاد بنــــده کړه، بنـــده آزاد کړه

(عبد القادر خټک)

فروتنـــي کـــړئ ســـــر بلنـــدانو!
بهره يو نه وړه خـــود پســـــندانو
تل خميـده وي بـــاروري څـــانګې
تواضع خـوی کـــړه بهر منـــــدانو

(کاظم خان شيدا)

ورکه دنیا شـــــه، بده يې طمـع

واوره له مـانـه که لـــرې ســـمع

بيم يې دسر شي په شان دشـــمع

چې سيم و زر کا په کور کې جمع

(کاظم خان شيدا)

په واک چې نلري په کام کـــې ژبه

که ګونګ شي ښه دی په لويـــه تبه

په بده ژبه ځان ځـي جــهان ځـي

ايمان لاهـم ځـي واوره طــــالبه!

(خوشحال ختټک)

**ادب چې نه وي په سپین په تور کې**

**عزت به نه وي په هغه کور کې**

**دولت به د رومي له هغه خلقه**

**چې سره تل وي په شر او شور کې**

(خوشحال خټک)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې پورتني بېتونه زده کوونکو ته په بشپړه توګه تشریح کړي. اولغتونه دې معنا کړي.
- زده کوونکي دې په ګروپونو وویشل شي او هر ګروپ ته دې د یوې څلوریځې په نثر اړولو دنده وسپارل شي.

# روغتیا

د جهان له ټولو نعمتونو څخه ډېر ښه اوپه زړه پورې نعمت روغ وجود او صحت دی، که څوک غواړي چې نیکمرغه او سوکاله ژوند وکړي او د لوی خدای ﷻ د عبادت په ګډون د ژوند ټولې چارې په سمه توګه تر سره کړي، نو د هر څه نه د مخه یې لازمي او فرضي دنده داده چې خپلې روغتیا ته ډېره پاملرنه وکړي. هغه څوک چې د ښه صحت او روغتیا خاوند وي ددنیا له ټولو نعمتونو څخه خوند او لذت اخیستلای شي. په انساني ټولنه کې ځینې پخې خبرې له یو نسل څخه بل ته په میراث پاتې کېږي. دغه شان خبرو ته د کاڼي کرښې وایي، لکه چې هوښیارانو ویلي دي: "روغ عقل په روغ بدن کې وي" له نورو حیواناتو سره د انسان تر ټولو لوی توپیر په عقل کې دی، ځکه هغه عقلیه ځواک چې په انسانانو کې شته په نورو وحشي حیواناتو کې نشته، نو کله چې انسان ته په نورو حیواناتو باندې د عاقله قوې د درلودو له امله دومره غټه برخه او ارزښت ورکړ شوی دی، باید له دغې قوې څخه داسې ګټه واخلي چې نه یوازې دا چې خپل ځانته ګټه ورسوي، بلکې بشریت

او خپلې ټولنې ته ویاړلی خدمت وکړي او خلک ددې تایید وکړي چې دده کارونه او عملونه ټول په خپله دده او دده د ټولنې په ګټه دي. انسان د نورو انساني دندو ترڅنګ باید د تل له پاره او په همیشنۍ توګه خپل صحت ته ډېره زیاته پاملرنه وکړي. د روغتیا ساتنې لومړنی شرط د میکروب او ویروس سره مقابله ده، که چېرې میکروبونه، نه وای نو ناروغۍ به هم نه وای، د ټولو ځوروونکو او وژونکو ناروغیو سر چینه میکروبونه دي، میکروبونه هم د خپل وجود، کور، کلي او د ژوند د چاپېریال د نا پاکۍ څخه پیدا کېږي، څرنګه چې د طب پوهانو دې مهم اصل ته ورپام شوی دی چې له تداوۍ نه د وقایې ارزښت ډېر اوچت دی، په وقایه کې له یوې خوا مالي تاوان نشته او که وي ډېر لږ وي او له بلې خوا د ټولو خطرناکو ناروغیو مخه نیول کېږي. که چېرې وقایې یعنې د ناروغیو مخنیوی و نه شي، نو له یوې خوا د روغتیا معایناتو او درملونو په لګښت زیاتې پیسې لګېږي او زیاتو پیسو ته اړتیا پیدا کېږي. دغه راز که څوک په ناروغۍ اخته شي د وجود د کمزورۍ او د مرګ له خطر سره مخامخ کېدل حتمي دي. دغه راز هغه طبي درمل چې د ناروغۍ دله منځه وړلو په خاطر استعمالېږي جانبي عوارض لري، نورې ستونزې ورپسې وي. نو ښه به دا وي چې موږ پاکوالي ته په یو ستر حیاتي ارزښت

قایل و اوسو. خپل لاسونه هروخت په تېره بیا د ضرورت له رفع کولو وروسته په صابون پریمېنځو، پاک خواړه وخورو او له ډېرو پاکو او بو څخه ګټه واخلو. ان تر دې اندازې چې پاکوالی په عمل کې د ایمان جزء وبولو. د یادونې وړ ده په هغو اوبو کې چې د پاکوالي له پلوه اشتباه موجوده وي، ښه لاره یې داده چې له جوشولو وروسته استعمال شي.

هغه څوک چې د نظافت مراعات نه کوي روغتیا له لاسه ورکوي. ډېر ژر یا د لنډ عمر په موده کې له منځه ځي او که چېرې ژوندي هم وي، نو ژوند یې په ژوند کې نه شمېرل کېږي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکي دې د روغتیا د ساتنې په مهمو ټکو باندې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې په وار سره د روغتیا په هکله یوه یوه جمله له یاده ووایي.
- د روغتیا ساتنې په هکله دې څو کرښې مقاله ولیکي.

# اخلاقي ښوونې

خدايه ﷻ! امان راکړې له دا هسې زندګۍ

چې تـــه بد وايې لـــه بلـــه، بل لـــه تـــا

زهر ښه وي که په صلح په صـــــــلاح وي

نه شـــکرې په فتنـــه او پـــه غـــوغـــا

ګونګی ښه دی چې بې کام و بې زبان وي

نه چې ژبـــه شـــي په بـــد ويـــل ګويـــا

کوڼ بهتر دی چې څه نه آوري پـــه غـــوږو

نه چې غوږ کانـــدي پـــه بـــد ويـــل شـــنـــوا

د جاهـــــل د همدمـــۍ نه به بهتروي

که له چـا ســـره همـــــــدم وي اژدهـــا

که مشکل دی،خو د زړونو رغـــول دي

سهل کار دی ســـــودو زيان ددې دنيـــا

چې د ورور او د عزیز پرې زړه آزار شـــي

حاصل مه شه هغـــه خپـــله مـــدعـــا

ګاه د نـورو رضـــا بویـه ګـــاهې خپـله

پکار نه ده همېشـــه خپـــله رضـــــا

ښه خواړه چې یو یې خوري بل ورتـه ګوري

خواړه نـــــه دي هغه زهردي ګـــــویا

(د رحمان بابا له دیوان څخه)

سپارښتنې:

- ښوونکی دې شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې شعر په نثر واړوي.
- په شعر کې دې متضادې کلمې په نښه کړي.

# تــرهـګر

وېره اچــــول او ډارول کـــــوي
بې ګنــــاه او بې خطــــا وژل کوي

ټول بشريت ورځني کرکه کــــــړي
تــل د بــيوزلانــو قــتلــول کــوي

هر څوک تر هه ګرو نه په وېـــره دي
بيــا هــم د مظــلومــو ځړول کـوي

چرته کې بم کـــېږدي انفلاق ورکړي
هـــو، دودانيـــو نـړول کـــوي

غله په شانته ګرځي پټ له خلکـو نه
هم د ماشـــومانو تښـــتول کـــوي

ښه په سر نوشت باندې خبر دي خپل
دغه بدې چارې بيــا کــول کـوي

ځمکه او هوا کې خپلـه چــاره کړي
کله پــه کراره کښــيناســتل کوي

هم پــه ســمندر کې لالهانــده وي
دغه بد کارونه مــدام خپــــل کوي

تل وي سر ګر دانه په ښــارونـــو کې
هو! په وېره وېــره ګرځېــدل کـــوي

خدايه دغه خلک هدايت کړه تـــــه

کوم چې په بې لارو، لارو تلل کـــوي

(حافظ)

---

سپارښتنې:

- ښوونکي دې د شعر معنا او مفهوم زده کوونکو ته ووايي.
- هر زده کوونکي دې په شعر کې پنځه فعلونه په نښه کړي.

# د ننګ مړ

په ننګ مړ خو ښه مړنه دی
د بې ننګه ژوند جفاده
لاس به وانخلم له ننګه
که په ننګ پاتې دنياده
چې سر پرې کړي "احمد شاه"!
د هغو مينه رښتيا ده

(احمد شاه بابا)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې پورته بيتونه معنا کړي.
- زده کوونکي دې دپورته بيتونو اصلي مفهوم په څوکرښو کې وليکي.

# د لیکوالۍ لارښوونې

۱- ښايي يو ليکوونکی لومړی داسې موضوع خوښه کړي چې هم ورسره مينه او علاقه ولري او هم پکې د پوره معلوماتو خاوند وي.

۲- ښايي چې يو مضمون په ښه رنګ شروع او په ښه توګه يې پای ته ورسوي.

۳- هره ليکنه بايد د خوښۍ په وخت کې وليکل شي، ځکه چې دغسې ليکنه خوندوره او زړه راښکونکې وي.

۴- ښايې چې يو ليکونکی د ټولنې له غوښتنې او ذوق سره سمه ليکنه وکړي، يوازې د خپل ذوق او خپلې نظر يې پيروي، کوم ارزښت نه لري.

۵- يو ليکونکي ته پکار دي تر هغه چې کيدای شي په خپلو ليکنو کې پردي لغات رانه وړي او خپله ژبه د نورو ژبو تر اغيز لاندې رانه ولي.

۶- په کار ده چې يو ليکونکی ساده او آسانه ليکنه وکړي چې هر څوک ور باندې وپوهېږي او خوند ترې واخلي، يعنې ښايي چې په مناسبو الفاظو او خوږو کلمو خپل مطلب بيان کړي او له زياتو عباراتو او مبالغو څخه ځان وساتي.

۷- د کلمو په انتخاب کې ډېر فکر، غور او د لوستونکو د پوهې په پام کې نیول په کار دي.

۸- په لیکنه کې د بل چا پېښې کول ښه کار نه دی. ښایي چې هر لیکوال په طبیعي ډول خپل مطلب ښکاره کړي، کټ مټ د بل چا د سبک تقلید ښه نه دی. ښایي چې د فکر ډول او د بیان طریقه مو خپله وي.

۹- په یوه لیکنه کې له پیل څخه تر پایه هم رنګې پکار ده، یعنې یو عبارت ډېر ادبي لیکل او بل په عادي رنګ لیکل د کمزورۍ او بې تناسبۍ نښه ده.

۱۰- ښایي چې یو لیکونکی د جملو په جوړولو کې له رنګینۍ څخه کار واخلي او ټولې جملې یو شان رانه وړي.

۱۱- یو لیکونکي ته پکار ده، چې له خپلې لیکنې څخه یوه ښکاره نتیجه واخلي.

۱۲- د یو کتاب او مقالې په لیکنه کې د ماخذونو ښودل لازمي خبره ده.

۱۳- هر لیکونکی باید خپله لیکنه په دوهم ځل وګوري تر څو د عقل او ادب په چوکاټ برابره شي.

په مسوده کې دوهم ځل فکر کول او د هغه سمول یو ډېر ښه عادت دی، ښايي چې یوه لیکنه څو ځله اصلاح کړای شي.

**۱۴-** مشق او مطالعه د لیکوالۍ له پاره یوه غوره لار ده.

د لومړني مشق طریقه داده چې د یو اخبار سرمقاله په غور ولولئ. مهم ټکي او ښه مطالب ورنه یادداشت کړئ او بیا هغه په خپل عبارت ولیکئ، بیا په کې دوهم ځل لپاره غور وکړئ چې څومره فرق پکې راغلی دی.

**۱۵-** د هرې موضوع په باره کې یاد داشتونه غونډول او هغه په ښه شان ترتیبول د مضمون د لیکلو سره مرسته کوي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د لیکنې هره برخه زده کوونکو ته تشریح او توضیح کړي.
- زده کوونکو ته دې کورنۍ دنده ورکړل شي چې د پورتنیو لارښوونو په رڼا کې د خپلې خوښې پر یوې موضوع لنډه مقاله ولیکي.

# پند او نصیحت

درتـــه وښـــیم کیمـیا د سـعـادت

د بدانـو سـره مـه کـوه صـحبت

که لویـي غـواړې ځـان کـم ګڼه تربله

بل تر دې دپاسـه نشـــته نصـیحت

په دوستانو تلطف کړه څو پـه تاشي

د دښمن سـره هم ښـه کوه خُـلقت

نوراني کا هغه ځـای چې سره کښیني

دیرینه څلـور هوښـیار په مشـــورت

که ګنجو نه د قارون درته انبـار شـــي

په هر لـوریې غورځـوه پـه ســخاوت

شورغوغا، جنګ وجدل به تر مینځ نه وو

که هرڅوک سره راضي وای په قســمت

که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه

بې محنته هېڅوک نــه مــومــي راحت

(خوشحال خان خټک)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د نېکۍ د ښیګڼو په هکله زده کوونکو ته معلومات ور کړي.
- زده کوونکي دې د پورته شعر مطلب په نثر ولیکي.

# حکایت

اوربېدلی مې کیســــــه ده　　چې له شـــاتو نه خوږه ده
د اخـــتر په ورځ ســـــهار　　بایـزید چـــې و نـــامـدار
لـــه حمــــامــه راوتـلی　　په کوڅـه کـې تېـرېدلـی
ایرې خـاورې چـاله بـامه　　راچپـه کړلـې نـا پـــامه
مــخ او ســر یې شو ککړ　　په ایرو پــــه خـــاورو خـــړ
بایزید په شکر ګڼو شــو　　د خپل مخ په پاکېــدو شو
چـې زه وړ یــم د بــل اور　　چې په اور کې شم نسـکور
له ایرو به څه بـد وړ مــه　　یا بــه لــږ شـــکوه کومـــه
هو، پوهانو ځان ایرې کـړ　　له لوینې یې ځان پـرې کـړ
څوک چې ځان ته ګوري تل　　خدای ﷻ ته نشي کړای کتل

لويي تل په ګفتار نده　　　　لو خبره پکار نده

تواضع به دې سر لوړ کا

تکبر به دې تل ځوړ کا

(زرغونه)

---

| لغتونه : | معناګانې: |
|---|---|
| شکوه | شکایت |
| لوینې | تکبر |
| تواضع | خاکساري |
| ځوړ | مخکښته، ښکته |

# د ځوانانو پسرلی

د کال د ځوانۍ او زلمیتوب شپې ورځې راغلې. په ټولو زړونو کې د پسرلي په راتلو د خوښۍ ولولې راپورته شوې. د سپینو واورو سره او سپینه برېستن ټوله شوه. د غرو نو لمنې په شنو او زرغونو ونو وپوښل شوې. دریدي ګلونه د هرې تیږې په خواکې د خپلو سرو پلټنو رسالې سنبال کړې. شپانه د شپول له خولې څخه خمبې لرې کړې. او خپله رمه یې په شنو او ښیرازو دښتو کې د څر له پاره خوشې کړه. په خپله زړه او زنګ وهلې شپیلۍ یې ګوتې کښیښودې.

په یوه سوې نغمه کې یې د خپل ژوند ټوله افسانه په ډېر سوز او ساز سره د بیدیا او غرونو په لمن کې خپره کړه. د کور، کلي پېغلې د سیل په بانه له کورونو څخه سینګار کړې ووتې او په شنو پټیو کې یې د اتڼ او ببولالو غږونه د سپینو روپیو په شرنګا شرنګ کې هرې خواته ورسول. او د سالو ډک پلوونه یې د رنګا رنګ ګلونو سره، خپلو کورونو ته راوړل. بزګرانو د غلو او دانو دکرلو په هڅه خپلې یوې د ګهیځ په خړه غونډې رڼا کې خپلو کروندو ته ایستلې او د تورې ځمکې د زړه په څېرولو لګیا دي. د نوي حاصل په هیله په خاوروکې زاړه تخمونه شیندي او په کار کولو بوخت دي. د ځوان بزګر مېړمن د مستو دمتهۍ تر څنګ ناسته ده او په

پوره مینه په کې مندانو وهي او د بسم الله او د الله ﷻ پاک نوم یې په ژبه جاري دی.

د خونې په یوه ګوښه کې کوړکه چرګه بوسو څخه په ډکه ټوکرۍ کې په هګیو ناسته ده. او نوي بچي یې ایستلي دي. چې د چونګ، چونګ غږونو او نارویې په کوټه کې یوه خوږه موسیقي خپره کړې ده. باغوان بېل په اوږه اېښی، په خپل بڼ کې زړې ونې باسي او په ځای یې نوې مېوه لرونکي نیالګي او بوټي ږدي.

د ګلونو زړې لښتې پرې کوي او د نوو څانګو د راټوکېدلو له پاره یې چمتو کوي. نوي ګلونه کري هو، د یوه ځوان باغوان کار هم دادی. په بورا او بلبل هم د پسرلي بوی لګېدلی او سرله اوسه یې د ګلونو په بوټو طوافونه پیل کړي دي. توتکۍ خولا د وخته راغلې او د پسرلي خوږ زېری یې په کور او کلي باندې ګرځولی دی.

هرې خواته چې د سړي نظر لګي نو په هر شي کې د نویوالي او ځوانۍ مظاهر ګوري. او د هر چا په زړه کې ورسره د ځوانۍ او زلمیتوب احساسات را پارېږي. موږ منو، چې د کال د ځوانۍ موسم خو راغئ، خو یوازې موسم دومره اهمیت نه لري.

که چیرته د هېواد د ځوانانو په زړونو کې ورسره د ځوانې مینې جذبې را ویښې نشي، نو د موسم له ځوانۍ څخه باید هېڅ هیله

**ونشي. خو زموږ دا باور دی چې د هېواد ښاغلي ځوانان په دې راز ډېر ښه پوه شوي وي او له دغه ښکلي او برکتي فصل څخه به په زړه پورې استفاده وکړي او د هېواد هیلو ته به چې اوس یې هم لا له دغې ځوانې ډلې څخه لري په مثبته توګه ځواب ورکړي.**

**(نصرالله حافظ)**

---

ګرانو زده کوونکو!

د پسرلي په هکله یوه مقاله ولیکئ چې د لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# شعر که نثر؟

- په شعر یې لیکې که په نثر؟
- په نثر خویې نشم لیکلی!
- نو فقط په شعر به یې وایې؟
- نه خیر، شاعر نه یم.
- آخر! خو یا به یې په نثر لیکې او یا به یې په شعر وایې...؟
- دا ولې؟
- دا ځکه، چې هر څه په نثر نه وي، هغه شعر دی او چې شعر نه وي، هغه نثر دی.
- څنګه؟ که زه خپل پلار ته ووایم: ماته له بازاره مېوه راوړه، دا نو نثر دی که شعر؟
- سبحان الله؟! څومره ساده یم، دا پنځلس کاله کېږي چې په نثر خبرې کوم، خو تر اوسه نه پوهېدم؟!

# اضافي ضميرونه

په پښتو کې اضافي منفصل ضميرونه په لاندې ډول ښودل کېږي:

**زما، زموږ-** د متکلم له پاره.

**ستا، ستاسې-** د مخاطب له پاره.

**دده، د دوی-** د نږدې مذکر غايب له پاره.

**ددې، د دوی-** د نږدې مؤنث غايب له پاره.

**د هغه، د هغوی-** د لېرې مذکر غايب له پاره.

**د هغې، د هغوی-** د لېرې مؤنث غايب له پاره.

دغه ټول اضافي ضميرونه تل له مضاف څخه دمخه راځي او مثالونه يې دا دي:

زما کور په کابل کې دی، زمونږ هېواد افغانستان نومېږي، ستا فکر ښه دی، ستاسې خيال څنګه دی؟

دده لاس خوږېږي.

ددې زړه ډاډه دی.

**ددې ورور ښوونځي ته تللی دی.**

**د هغه پلار ژوندی دی.**

**د هغې مور ژوندۍ ده.**

**د دوی تعلیم زیات دی.**

**د هغوی فکر پوخ دی.**

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د اضافي ضمیرونو محتوا او مفهوم زده کوونکو ته توضیح او تشریح کړي.
- زده کوونکي دې د هر اضافي ضمیر له پاره له پورته مثالونو پرته نور مثالونه جوړ کړي.

# کتاب پلورونکی

یوه سړي له کتاب خرڅوونکي څخه پوښتنه وکړه چې کتاب پلورلو کې يې ګټه ده که تاوان؟

کتاب خرڅوونکي ورته وويل: تاوان. دا ځکه چې څوک سواد لري هغه پيسې نه لري او څوک چې پېسې لري هغه سواد نه لري.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د کيسې مطلب په خپو کرښو کې وليکي.
- زده کوونکي دې داسې نورې کيسې له يادو زده کړي او بيا دې په بله ورځ خپلو ټولګيوالو ته ووايي.

# پوهنه

پوهنه هغه رڼا ده چې تل يې له بشري ګمراهيو او تيارو سره مقابله کړېده او د ناپوهيو تورتم يې په خپلو وړانګو روښانه کړيدی او د جهالت تورې تيارې يې له مينځه وړې دي.

په دنيا کې چې څه لاسته راوړنې شويدي او يا کيږي هغه ټول د پوهې له برکته دي او دا چې ځينې هېوادونه پرمختللي دي او ځينې وروسته پاتې دي، دا هم د پوهې او نا پوهۍ اثر دی، ځکه چې ټول پوهان د علم او پوهې د زده کړې او تحصيل توصيه کوي او انسانان د پوهنې په رڼا کې د پوهنې خواته رابولي.

خدای ﷻ په قرآنکريم کې فرمايلي دي:

آيا برابر دي هغه کسان چې علم لري، له هغو کسانو سره چې علم نه لري؟ يعنې برابر نه دي.

همدا شان رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي چې د علم تحصيل په مسلمانانو باندې فرض دی.

اروپايي پوهانو هم د علم او پوهنې په ستاينه کې ډېر څه ويلي دي، د مثال په توګه:

هو لانو وايي:

"لومړی شاګردي وکړه وروسته بيا ښوونکی شه."

نورد ويلي دي:

"څوک چې پوهنه نه لري ګويا ژوند نه لري.

پاسکال وايي:

"د انسان لوړتيا په پوهنه او فکر کې ده."

د ليپنز وينا ده چې:

"د علم د زده کړې په وخت کې بايد فکر وکړو چې څه زده کوو؟ او له دې زده کړې څخه څنګه استفاده کوو."

د يونان پوهانو هم د علم په باب کې خپلې نظر يې څرګندې کړې دي.

افلاطون ويلي دي:

"هغه خوند چې له علم او پوهنې څخه سړي ته حاصليږي ډېر پاک او سپېڅلی خوند دی."

سقراط وايي:

"خپل وخت دې د خپل نفس د اصلاح له پاره د ګټورو آثارو په لوستلو صرف کړه او علم ته پرمال ترجیح ورکړه."

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دعلم دګټو په هکله یوه لنډه مقاله ولیکي او بیا دې هر زده کوونکی خپله مقاله د ټولګیوالو په مخکې ولولي.

# تروریزم

تروریزم لکه د سرطان او ایډز د وژونکو ناروغیو په شان په نړیواله کچه یوه خطرناکه ناروغي او انساني ضد عمل دی، چې د جهان ټول هېوادونه یې په اندېښنه او تشویش کې اچولي دي.

زیاتره تروریستي، وژنې، ویجاړونې او ډارول د سیاسي موخو په خاطر د بریالیتوبونو د تر لاسه کولو له پاره کېږي، تروریزم بشري ضد ناوړه عمل دی چې ساری یې په نړۍ کې نه لیدل کیږي. ځکه هغوی له ناروا لارو څخه د خپلو هدفونودتر سره کولو له پاره ټول انساني او دیني ضد عملونه کوي او د بشر د حقونو داعلامیې په ګډون ټول طبیعي حقوق تر پښو لاندې کوي.

ددغې اعلامیی په (۱) ماده کې وایي چې ټول بشري وګړي آزاد دنیا ته راځي او د حیثیت او حقونو له پلوه سره برابر دي، مګر تروریستان دغه مهم اصل په پام کې نه نیسي، دغه راز ژوند د انسان طبیعي حق دی، خو تروریستان ددغه طبیعي حق سپکاوی کوي.

هغوی په هوا کې الوتکې او په دغو الوتکو کې سپاره مسافر چې ماشومان، ښځې، سپین ږیري او ټول بې ګناه خلک په کې موجود وي په ډېره بې رحمانه او وحشیانه توګه له منځه وړي.

تروریستان هغه وحشي انسانان دي چې د ځان غوښتنې د خطر ناکې ناروغۍ په خاطر په بشري ټولنو کې د هېڅ انساني معیارونو درناوی نه کوي.

تروریستان یا ترهګر، مادي ګټو او سیاسي موخود ترلاسه کولو له پاره په راز، راز بې رحمیو سره په زرګونو انسانان د مرګ کندې ته غورځوي.

دوی دخپلو ناوړه عملونو په لړۍ کې چې تش په یادولو یې انسان ځوربږي، حتی د ماشومانو په ګډون ډېر بېګناه انسانان د پسونو په شان حلالوي.

د تروریستانو انساني ضد عملونه چې دنړۍ په هر ځای کې یې تر سره کړي دي، دومره ډېر دي چې کتابونه پرې ډکېږي.

نو څرنګه چې تروریزم په انساني ټولنه کې یوه ډېره کرغېړنه څېره او خطرناکه سابقه لري دا د هر انسان وجداني دنده ده چې تروریستانو ته په کرکه وګوري، دوی رسوا او افشا کړي او د ژوند تر پای پورې تر وسه د هغوی پر ضد مبارزه وکړي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د دې ناوړه کړنې د غندنې په اړه څو کرښې مقاله ولیکي.

# اشاري ضميرونه

په پښتو کې ځینې اشاري ضمیرونه هم شته چې د اشارې په ډول د اشخاصو او شیانو په ځای استعمالېږي. په پښتو کې اشاري ضمیرونه په لاندې ډول دي:

**دغه، دغو-** د نږدې مذکر له پاره.

**هغه، هغو-** د لیرې مذکر له پاره.

**دغې، دغو-** د نږدې مؤنث له پاره.

**هغې، هغو-** د لیرې مؤنث له پاره.

په دغو کلمو کې (دغې، هغې) د مفرد مؤنث له پاره، او "دغو، هغو"د جمع مذکر او مونث له پاره د ماضي متعدي په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کې استعمالېږي او "دغه، هغه" په نورو حالاتو کې د مؤنث ، مذکر، جمع او مفرد له پاره یو شان راځي. مثالونه یې په لاندې ډول دي:

| فاعلي حالت: | ارتباطي حالت: | نور حالتونه: |
|---|---|---|
| دغې ډوډۍ پخه کړه | له دغې نه قلم واخله | دغه راغلی و<br>دغه راغلې وه |
| هغې کالي ووینځل | هغې ته کاغذ ورکړه | هغه نه و راغلی،<br>هغه نه وه راغلې |
| دغو لار جوړه کړه | ددغو کار ولې نه کوې؟ | |
| هغو خپل کار وکړ | له هغو پوښتنه وکړه. | |

**یادونه**: له اشاري ضمیرونو سره که چېرې مرجع نه وي ذکر شوې، نو اشاري ضمیرونه بلل کېږي، لکه په پورته مثالونو کې او که چېرې مرجع ورسره راغلې وي، نو بیا ورته اشاري صفت ویل کېږي، لکه:

دغې ښځې ډوډۍ پخه کړه – دغو سړو لار جوړه کړه.

دغه هلک یو پوه هلک دی.

# لویوالی

شپه او ورځ ورپســـې ګرځـــي هر انســـان

دې مقصـد تــه رسېـدل نــه دي آســان

بډایانو پیـدا نکړه پـه ډېــر مـــال کې

تش لاســـونه بیـــرته راغلل تــاجـــران

پـــه یـــوازې علـم کلـــه حاصـــلېږي

مالیدلـــي د ډېـــر عـــلـــم خـاونـــدان

هسې وایي په قوت او زور مونـــده شـــي

پــه غـلـطـه لاره تللـي ظـــالمـــــان

چې په تش کمال او فن باندې یې غـــواړي

په رښـتیا چې غـولېـــدلي دا کســــان

په رتبه یا نســـب کلـــه څــوک لـــویېـږي

ســترتوب مه ګڼـه  ته هـومـره ډېــر ارزان

بې د دیـن لـــه خــدمــت بله لاره نشـــــته

پــه دې لاره کــې یــې مومي هوښــیـاران

که قوت لـرې، کــه عــلم، که دولــت دی

که دا ټول کړې په همدې ځای کــې قربان

نو به هلته ستا پــه برخـــه شـــي لویوالـی

په دې شرط که درنه ورک نشي خپل ځان

(ګل پاچا الفت)

# نصیحتونه

۱ــ د ژبې ساتل په خلکو کې د دنیا د مال او دولت له ساتلو څخه سخت دي.

۲ــ نرمو جامو، خوږو طعامونو او خوشحاله وخت ته ډېر مه هوسېږه، کېدای شي چې سبا ته دا څیزونه، نه وي.

۳ــ هر څوک چې په خپله ځانته ارزښت ورکوي د تواضع لاره یې پرې ایښې ده.

۴ــ هرهغه څوک چې په دریو کارونو کې د زړه حضور ونه لري الله ﷻ د رحمت دروازه د هغه پرمخ تړلې ده:

الف: د قرآن کریم د تلاوت په وخت کې.

ب: د الله ﷻ د ذکر کولو په وخت کې.

ج: د لمانځه د اداکولو په وخت کې.

۵ــ په ټولو کارونو کې درې کاره ډېر سخت دي:

الف: سخاوت په عاجزۍ کې.

ب: زهد او تقوی په پټه سره.

ج: حق ویل د هغه چا په مخ کې چې له هغه څخه ویرېږئ.

۶ــ د بدن صحت په لږ خوراک کې دی.

۷ــ په خپلو ټولو کارونو کې د عزم له سستۍ څخه ځان وژغورئ ځکه چې دښمن په داسې وخت کې پرتاسو کامیابي حاصلوي.

# جـــد او جـــهد

هر مرغه چې د بل غوښې خوري مردار دی
ځان حلال کړه لکه زاڼه شـــاهـــين مشـــه
د ذرې په څېـــر د لمـــر پـــه طلـــب ګرځـــه
لکه تيره هســـې پروت پـــه زمـيـــن مشـــه
کـار په تش لســـتوڼی نشــــي بې دلاســـه
لاس په توره کړه بې لاسه آســـتين مشـــه
چـــې تقـــوی، ديـــانت نلـــري "رحمانه"!
د دې هســـې همنشـــينو نشـــين مشـــه

(عبدالرحمان بابا)

---

## تمرين:

- ددې عنوان اصلي مقصد په شفاهي ډول سره ووایاست.
- زده کوونکي دې د جد او جهد په هکله څو کرښې وليکي.

# لطیفه

یوه سړي یوه ګنډونکي ته یوه پیاله، چې په قیمتي دسمال کې یې تړلې وه، ور کړه چې دامانت په توګه یې ورته وساتي. ګنډونکي پیاله په تاخچه کې کېښوده او خپل شاګرد ته یې وویل:

ددې پیالې سره غرض ونه کړې چې زهر په کې دي. لږ شېبه وروسته ګنډونکی د کوم کار له پاره د باندې ووت. شاګرد فکر وکړ چې په دې پیاله کې خو څه کمال شته او حتمي یې باید وګوري. پیاله یې را واخیسته، ویې لیده چې له شاتو څخه ډکه وه، نو ژر یې هماغه دسمال چې پیاله په کې تړلې وه، یوه ډوډۍ پخوونکي ته ور وړ او په بدل کې یې ور څخه توده ډوډۍ راوړه او شات یې ورسره وخوړل. تشه پیاله یې په تاخچه کې بېرته کېښوده او بیده شو. کله چې ګنډونکی راغی، ویې لېده چې پیاله تشه پرته ده او دسمال هم نشته. شاګرد یې را ویښ کړ او پوښتنه یې ورځنې وکړه چې دا ولې؟ شاګرد ورته وویل چې: زه ویده وم چې را ویښ شوم ومې کتل چې دسمال نشته او چا غلا کړی دی. ومې ویل چې اوس به استاد ته څه ځواب ورکوم؟ نو هغه زهر مې وخښل چې مړ شم. د مرګ په انتظار پروت وم چې ته راغلې.

---

❖ زده کوونکي دې پورته کېسه په خپله ژبه په څوکر ښوکې ولیکي.

# عزت

عزت نشــــــته زورورو په حضـــور کې
لويي نشـــته تکبر او پـــــه غـــرور کې
قبلېدل د چا په درکـــې لـوی ذلـت دی
که نقصان نه وي په سترګو او شعور کې
له مانا او له کمـــال ســره آشـــنا شه!
موندل کېږي لوی عـزت د علم نور کـــې
خوشحالي په ډېر دولت او مال کې نشـــته
ښـه ژونـدون بويه د زړونو په ســرور کې
د حسد او حرص خـاونـد پــه او رکړېږي
لئيمان وي شپه او ورځ په سره تنـور کې
ملنګان يې د دوهۍ په غـــــاړه مومـــــي
کوم تود والی چې مالدار مومي په کور کې
(عالي افکار)

# د يموكراسي

د موكراسي يوه يو ناني كلمه ده چې په لنډ ډول د ملي حكومت په معنا ده.

په نړۍ كې ډول ډول سياسي رژيمونه او حكومتونه شته، په ټولو رژيمونو كې د ټولو نه بد استبدادي رژيم دی. په استبدادي رژيم كې قانون نه وي، هر څه چې د مستبديا ظالم واكمن له خولې ويل كيږي هغه قانون دی، خو په دموكراسۍ كې د خلكو اراده قانون دی، اساسي قانون  د خلكو په خوښه جوړيږي، ددغه قانون په رڼا كې هرڅوك ځان كانديدولی شي او د خپلې خوښې كانديد ته رايه وركولی شي، اساسي قانون د واكمنې ډلې او خلكو تر منځ يو تړون دی، چې د ملت د ټولو افرادو په ګټه وي.له رای اخيستلو وروسته، شورا يا پارلمان، اجرائيه او قضائيه قواوې را منځته كيږي. په دموكراسۍ كې د قلم، بيان او عقيدې آزادي تضمينيږي.

په دموكراسۍ كې هېڅوك د هېچا تابع نه دی. مګر هر څوک دهر چا تابع دی. هر څوک هم حكومت دی، هم رعيت.

اسلام هم په آزاد او ديموكراتيک ډول په ټولنه كې د نارينه و او ښځينه و ټول حقوق وركړي دي، مګر په اسلامي نظام كې نه يوازې د انسانانو حقوق او مصالح تأمينيږي، بلكې اسلام د بشر مادي،

معنوي، علمي، ديني، عرفي، اجتماعي، سياسي او اقتصادي ټول ارزښتونه په پام کې نیولي.

فرد ، کورنۍ ټولنې او حکومت ته یې په خپل ځای کې حق ورکړی لکه چې په یوه حدیث نبوی ﷺ کې راغلي (وأعط کل ذی حق حقه) نو په اسلامي نظام کې حریت شته، مګر په اسلام کې ټول ملي او فردي حقوق د خاصو ځانګړتیاوو، اصولو، قواعدو او شرطونو په بنا کې واضح شوي او د هېڅ انسان په حق تجاوز نشي کېدی نو انسان چې د خدای ﷻ مخلوق دی آیا د هغه په تنظیم به ښه عالم نه وي؟ نو ویلی شو چې اسلام په ټوله نړۍ کې غوره او بهترین نظام دی.

سپارښتنې:

- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه په وار وغواړي چې د یموکراسي د اسلام له نظره څنګه ده؟
- زده کوونکي دې د اسلام له نظره په دیموکراسۍ یوه لنډه مقاله ولیکي.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

# د حقونو او حیثیت له اړخه برابري

د انسان کرامت د اسلام د سپیڅلي دین له مخې، که د هغه په ژوند کې وي که له مرګ څخه وروسته وي ، په خپل ځای ساتلي شوي او د هغه هیڅ ډول سپکاوي ر وا نه دی، په صحیح بخاري کتاب کې راغلي دي: یوه ورځ پیغمبر(ص) له خپلو یارانو سره په یوه ځای کې ناست وو، چې یوه جنازه یې له خوا سره تېره شوه، د جنازې د تېرېدلو په وخت حضرت پیغمبر(ص) یې د درناوي په خاطر پاڅېد، یاران یې هم ودرېدل، د جنازې له تېرېدلو وروسته یې یارانو ورته وویل: دغه د یوه یهودي جنازه وه، پیغمبر(ص) په ځواب کې ورته وفرمایل:(آیا انسان نه ؤ؟)

١٦ جوزا ١٣٨١
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

---

*د دوارو رضائيت (ښځه او نارينه) د ميرمنې او ميړه په ټاکلو کې د کورنۍ او ټولنې سلامتي ده.*

............................................

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.

(د افغانستان د اساسي قانون له څلورپنځوسمې مادې څخه)

کورنۍ د ټولنې د جوړولو ستنه ده او واده کول د هغې بنسټ جوړوي، نو ځکه ښځې او نارينه د واده کولو حق لري او هيڅ داسې يوبنديز چې د نژاد، رنګ او يا هم د قوم له مخې وي، نشي کولای چې د دغه حق مخه ونيسي.

(د بشري حقونو د اسلامي اعلاميې پنځمه ماده، د الف بند)

# د کورنۍ د نیکمرغۍ عوامل

کورنۍ د نیکمرغۍ وسیله ده، دا قدیمي بنسټ، چې اوس هم شته دی، تر یوې اندازې وران شوی او بیا جوړولو ته اړ دی.

د پلار، زوی او مور په مینځ کې یو له بل سره د نظرونو یو ځای کول د نیکبختۍ منځ ته راوړل دي. ځکه اوسنی پرمختللی ژوند د متبادله احساس او شعور اساس ورانوي او غواړي چې له مینځه یې یوسي او ښایي چې دا به هم د دې زمانې د دایمي پریشانۍ او غمجنۍ له دلیلونو څخه یو دلیل وي.

زامن خپلې کورنۍ ته څه اهمیت نه ورکوي، پلرونه د خپلو زامنو له بې پروایۍ څخه نالښت کوي او دا حالت په دغه ګرانښت او احترام کې چې باید د دوی په مینځ کې وي، اغیزه لري او د کورنۍ سرنوشت ښکاره کوي.

کورنۍ باید د نیکمرغۍ سر چینه وي، نه د نفاق او جګړې ځای. زیاتره کورنۍ د خپلو غړو په تېره بیا له زلمیانو څخه نالښت کوي. د دې پېښو سبب زیاتره په روحي، اقتصادي، اجتماعي او نورو عواملو پورې اړه لري. په هغه ځای کې چې اقتصادي مشکلات حل شوي وي یوازې روحي او ټولنیز عوامل موجود وي.

هغه کورنۍ چې د عادي مشکلاتو او اړتیاوو د له منځه وړلو له پاره ستونزې نه لري، په دې ډول کورنیو کې ښځه چې د کور مېرمن ده د خپلو کارونو او وظایفو له کولو څخه مخ ګرځوي، د اوسنۍ زمانې ښځې په دې باندې شرمېږي چې د پخلي په خونه کې کښېني او کارونه

وکړي. ځکه چې دايې په زړه کې ورګرځي چې دا کارونه ددې حيثيت ورانوي. آيا رښتيا هم داسې ده؟ نه ګواکی داسې نده.

هغه کسان چې په صنعتي ځايونو کې ژوند کوي زياتره يې داسې کور، چې په کافي اندازه پراخه وي، نشي موندلی، نو ناچاره دي چې په تنګو او ناوړو کورونو کې و اوسي او دا وضعيت يې طبعاً په ژوند کې تاثير لري.

نو له دې ټولو څخه پرته د اوسنۍ زمانې اقتصادي مشکلات هم کورنۍ نا چاره کوي چې کله، کله رنګه او يو له بله سره جلا شي، يا که ګډ ژوند وکړي هم يوله بله سره لېرې وي. پلار دکرنې په ځايونو کې اوسي، مور يې د کور کارونه کوي. او په دې ډول کورنۍ خپله خوشحالي او خوندوره ټولنه له لاسه ورکوي او همدا سبب دی چې په صنعتي هېوادونو کې خوښي او اړيکې ورو ورو کميږي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د درس مفهوم په ساده ژبه زده کوونکو ته توضيح کړي.
- زده کوونکي دې د کورنۍ د نيکمرغۍ په اړه خپل نظر په څو کرښو کې وليکي.

# ټوکــه

یـو سـپین ږیـري کرونـدګر، چې زامـن يـې نـه درلـودل او دبیکسۍ احساس يې کاوه، د یو مزدور دنیولو په هڅه کې و، ناخبره یو زلمی په مخه ورغی او ورته ویې وویل: "ماما جانه! زه مزدوري کوم، که څوک مزدور نیسي او تاته معلوم وي، نو ماته يې پته راکړه چې ورشم.

سپین ږیری په زړه کې ډیر خوښ شو او ورته يې وویل: بچیه! زه خپله مزدور نیسم، راځه له ماسره مزدور شه.

پـه ټاکلي تنخـوا زلمـی لـه سـپین ږیـري سـره مـزدور شـو او پرېکـړه داسې وشوه چې کوم وخت بادار لـه مـزدوره دخوښۍ څرګندونـه وکړي او په خندا وي، نو زلمی به دتنخوا دزیاتوالي هیله ورڅخه کوي.

څو ورځې وروسته يې یوه څټه غنم په خره بار کړل او مزدورته يې وویل چې دا ژرنده کې اوړه کړه.

زلمي غنم ژرندې ته ورسول او دژرندې په ډول يې خالي کړل. ژرنده ګړي ورته وویل: دا غنم ډېر ناپاک دي. لومړې يې پاک کړه بیا يې اوړه کړه، زلمي ورته وویل: اوس مې دژرندې وار نیولی او په ډول مې اچولي دي. بیا به اوړه پاک کړم.

شپه راغله، ژرند ګړی کور ته لاړ، زلمی په ژرنده کې پاتې شو.

لیوه راغی او خر یې دژرندې په مخ کې ټوټې ټوټې کړ او ویې خوړ. زلمی چې له اوړه کولو نه وزګار شو، نو اوړه یې دژرندې مخې ته وایستل، په څادر یې بادول پیل کړل او ټول اوړه باد یووړل.

ژرند ګړی چې ژرندې ته راغی، نوله زلمي نه یې بوجۍ د اوړو په مزد کې واخیستله.

زلمی تش لاس کورته راغی او بادار یې پوښتنه وکړه چې اوړه دې څه کړل؟

زلمي ورته وویل: غنم ناپاک وو، پس له اوړه کولو نه مې وغوښتل، چې اوړه پاک کړم، نو هغه وو چې ټول باد یووړل.

بادار ورته وویل: چې خر دې څه کړ، زلمي ورته وویل: هغه لېوه وخوړ. بادار له غوسې نه وخندل. مزدور وویل: اوس به مې، نو تنخوا زیاتوې.

# دنیا ښه ده

ښه ده ښه ده دا دنیا     چې تو ښه ده د عقبا
مزمت ددنیا مه کړه     واوره پند کړه داوینا
په دنیا کې لوی حکمت دی     پرې پوهیږي حکما
که تر سر یې صدقه کړې     رفع دفع کړي بلا
که غلیم لره یې ورکړې     غلیم دوست کړي په هوا
که په اور باندې یې کېږدې     بوی دعو دوکا پیدا
که یې تویه په صحرا کړې     ښایسته کاندي صحرا
که یې نذر کړې وپیر ته     خوشحال درومي په خندا
څو ژوندی یې په جهان کې     یادوي دې په دعا
د حاتم په څېر دی ستایي     خطاب درکا د سخا
سخي هر یو د خدایﷻ دوست دی     ولو کان فاسقا
هر بخیل د خدایﷻ دښمن دی     ولو کان زاهدا
دنیا کښت د آخرت دی     داخبره ده رښتیا

| | |
|---|---|
| په دنيا کې بدي نشـــــته | که بـــــدي نـــه وي له تا |
| دنـيـا بحــر دی بهيــــږي | آيينـــې غونــدې صفــا |
| خپل خپل مخ پکې ليدی شي | که ښوک زشت وي که زېبا |
| هم خطر پکې د ســر دی | هــم ګوهــر دی بــې بها |
| چېرته خوند کاندي د زهرو | چېرته خوند کړي د حـلوا |
| کار همه واړه موقوف دی | د ســــــړي پـــه مـدعا |
| هر چې کا هغه به مـومي | دنيـــا ځـــای دی د جـزا |
| له حرامــو يې پرهيــز وي | وي مشغول په پنج بنـــا |
| که يې مال د دنيا ډېر وي | هيڅ پرې نه کاندي پــروا |

(عبد الرحمان بابا)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې په ساده ژبه زده کوونکو ته د درس اصلي مفهوم بيان کړي.
- زده کوونکي دې دنيا د ښيګڼې په اړه څو کرښې وليکي.

# بيټ نيکه

بيټ نيکه د پښتنو له مشهورو نيکو نو څخه و. ده دوه نور ورونه درلودل، چې يو "سړ بن او بل "غرغښت" نوميده، چې هغوی ته هم د پښتنو ډېرې قبيلې منسوبې دي.

د بيټ نيکه نوم مورخينو "بيټني" او "بټن" هم ليکلی دی او د ده ژوند د (۳۰۰هـ) او (۴۰۰هـ) تر مينځ اټکل شوی دی.

تر ټولو پخوانی کتاب چې ددې نيکه نوم او اشعار پکې راغلي دي د " تذکره الاولياء" کتاب دی، چې سليمان ماکو په (۶۱۲ هـ ق) کال شا او خوا په پښتو ليکلی دی او د بيټ نيکه يادونه داسې کوي:

"نقل هسې کاندي يارانو چې روزګار د شيخ بيټني کې دده ورورو چې سړ بن نوميده او پر شيخ بيټني هم خورا ګران و، زامن يې نه درلودل، بيټني خپل زوی اسماعيل ورکړ او د سړبن په کاله لوی شو، مهربان خدای ﷻ د اسماعيل په برکت سړبن ته ډېر زامن په نصيب کړه."

بیټ نیکه سر بېره پر دې چې د پښتنو له مشهورو نیکونو څخه و، مناجات یې سلیمان ماکو په خپله تذکره کې راوړي او لیکي: "نقل کوي چې شیخ بیټنی سپین ږیری شو، نو ده به هر کله څښتن ستایه او رب ته به یې درخواست کاوه، چې زما په کهول او د سړبن او غرښت په کهول کې برکت کېږدې."

# د بېټ نیکه مناجات

لویه خدایه ﷻ! لویه خدایــه ﷻ! ستــا پــه مینـــــه پـه هر ځایه
غــر ولاړ دی درنــاوی، کــې تـولــــه ژوي پـــه زاری، کـــې
دلــته دي د غـــرو لـمنـــــې زمـــونږ کېږدی، دي پکـــې پـلنې
دا وګړي ډېر کــړې خدایه ﷻ!
لویه خدایه ﷻ! لویه خــدایه ﷻ!
هسک او ځمکــه نغښتــه ستــاده د مـــــړو وده لـــــه تـــــاده
دا پــالنـه ستـا ده خــدایــه ﷻ! لویه خدایه ﷻ! لـویه خـدایه ﷻ!

د بېټ نیکه دا شعر علاوه پردې چې ډېر ساده او روان دی د بلې ژبې لغات هم پکې نشته، بې له یوه د "خدای ﷻ" کلمه چې هغه د پښتو او فارسي په مینځ کې مشترکه ده.

(تذکرة الاولیاء)

---

لار ښوونه:

❖ زده کوونکي دې د بېټ نیکه مناجات په نثر تبدیل کړي.

# داستان

علم ګل کاکا، دوه زامن درلودل، مشر زوی یې "عبد الله" او کشر زوی یې سر تور نومېده.

عبد الله ډېر هوښیار او ذکي هلک و، تل یې د دیني زده کړې له پاره کوښښ کاوه، د ایمان رڼا یې له کوچنیوالي څخه په تندي کې له ورایه ځلېده، د نېکو او ښو کسانو سره یې مینه وه.

خو د علم ګل کاکا، کشر زوی سر تور له کوچنیوالي څخه بېکاره و او دده له ناوړه سلوک نه، ګاونډیان ډېر په تنګ وو.

کله چې پلار یې مړ شو، عبد الله د خپل کار او زیار له امله ارام ژوند کاوه. او خپل زامن یې په ښوونځي کې داخل کړل او د هغوی له پاره یې کتابچې، قلمونه او نور د ضرورت وړ شیان واخیستل، د شپې له خوا به یې له خپلو زامنو سره درسي مشکلات حل کول، زامن یې په ډېره ښه درجه له ښوونځي څخه بریالي او دلوړو زده کړو له پاره پوهنځي ته ولاړل، خو سر تور چې خپلو زامنو ته هېڅ پاملرنه، نه کوله خپل زامن یې په ښوونځي کې داخل نه کړل، کله چې هغوی رالوی شول، مجبور شول چې د بل چا مزدوري وکړي، نو له همدې امله یې ژوند په ډېره خوارۍ تېرېده.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د کیسې اصلي موخه او پیغام په ساده ژبه زده کوونکو ته ووایي.
- زده کوونکي دې د زده کړې د ارزښت او اهمیت په هکله لنډه مقاله ولیکي.

# لیک ښود

په هره ژبه کې، له لیک دود څخه وروسته، د لیک ښود خبره مینځته راځي. دلیک ښودنې مطلب دادی چې څرنګه لیکنه په کار ده؟ کوم ډول لیکل ښه دي؟ ښې لیکنې کومې دي او موږ کوم ډول لیکنې ته ښه لیکنه ویلای شو؟

ددې پوښتنو ځواب به په وروسته کرښو کې وګورئ.

موږ دلته د لیک ښود کلمه، د عربي انشاء په معنا اخلو. په عربي لغت کې، انشاء د یو نوي شي د پیدا کولو په معنا راځي.

په اصطلاح کې، انشاء دې ته وایي، چې سړی د خپلې پوهې په قوت خپل خیال او فکر په ښو الفاظو او عبارتونو کې ښکاره او څرګند کړي.

مګر د لیک ښود مفهوم تر انشاء هم عام او پراخ دی.

په لیک ښود کې، هر راز لیکنه راتلای شي. نوی خیال وي او که زوړ، خو چې د بیانولو ډول یې خوند ور او په زړه پورې وي. په یوه لیکنه کې دوه مهم اړخونه په پام کې نیول کېږي: لومړی اړخ معنوي او دویم یې لفظي دی.

په معنوي اړخ کې فکر، خیال، معنا او مقصد شاملېږي او په لفظي اړخ کې نورې کلمې، عبارت او جملې راځي. نو دادی موږ

په وروستيو کرښو کې دغه دواړه خواوې څېړو او په دې موضوع باندې لږه ډېره رڼا اچوو، مګر دا خبره هم بايد وکړو چې دلته زموږ مقصد په عمومي ليکنه يا عام ليک ښود کې دی. يعنې مطلب دادی چې د عامې ليکوالۍ صفات، ښېګڼې او ليارې چارې وښيو.

له دې عمومي کتنې څخه وروسته کېدای شي د ليکوالۍ په خاصو څانګو هم څه خبرې وکړو.

د ژبې يو غښتلی ليکونکی د يو پوه او تکړه ختګر مثال لري. ختګر خښتې، ګټې او نور شيان اخلي او په پوره ذوق او خاص مهارت ورڅخه دېوال جوړوي. دغسې ليکوال هم توري، لغتونه، محاورې او اصطلاح ګانې سره يو ځای کوي او په پوره ذوق او سليقه ورڅخه جملې او عبارتونه تياروي.

لکه چې د يوې خرابې تېږې په لګولو دېوال خراب او بې ډوله راځي، دغسې د يو سخت او شډل لغت په راوړلو عبارت هم سپک، بې خونده او بې ډوله کېږي.

د لغتونو زېږوالی او نا آشنايي، د فصاحت او خوږوالي دښمنان دي، نو ځکه د ليک دود د ښه والي لومړی شرط دښو الفاظو او لغتونو پيدا کول دي. ګرامري غلطۍ او خرابۍ هم يوه ليکنه بې خونده کوي او د بلاغت له دايرې څخه يې وباسي، نو ځکه د ژبې د قاعدو او لارو پېژندنه هم يوه ضروري خبره ده.

دغه شان ربنتیني ذوق او ښه سلیقه هم په دې لاره کې پوره مرسته کولی شي. دښې او پخې لیکنې له پاره یوه ژوره علمي مطالعه، د پخو لیکوالو د کتابو کتنه، ژور فکر او پوخ نظر پکار دی.

د لیکوالۍ لومړنی بنسټ همدغه ژور فکر او پوخ نظر دی. که چېرې په لومړي سرکې د موضوع په خوښو نه کې ښه غور وشي، د مطلب او مقصد ټکي په دماغ کې راغونډ کړای شي او بیا ورته د کلمو او تورو په ښایسته چوکاټ کې ځای ورکړل شي، نو خامخا به یوه ښه لیکنه مینځ ته راشي. که په یو لنډ نظر ورته وګورو نو ښه لیکنه هغه ده چې د ژبې له خپل چوکاټ او رنګ څخه ونه وځي.

که چېرې موږ په خپلو لیکنو کې د پښتو ژبې له اصلي چوکاټ څخه ونه وځو او د محاورې او خبرو اترو لمن پرې نږدو، نو موږ به د لیک دښه والي له پاره پوره خدمت کړی وي.

هره زمانه او هر وخت د لیکلو ځانته سبک او ډول لري.

دغه شان په هر وخت او زمانه کې ښه سبک، هم وي او خراب هم، ور هم وي او ناوړه هم، نو ځکه دښه او خراب پېژندل د لیکوالو له پاره په توره شپه کې د ځراغ مثال لري. په دې کې شک نشته چې د پخوانیو لیکوالو سبکونه پاخه او خواږه دي، خو د ځینو نویو لیکونکو سبکونه بې خونده وي. دیوې ژبې د لیک ډول همېشه ددغو کسانو په لاس خرابېږي او په ژبه کې بې مزې عبارتونه او شډل لغتونه راننوځي. دوی د ښه او خراب، توپیر نشي کولی، د

اولس اصلي ذوق ورته معلوم نه وي. د ژبې له اصلي قاعدو څخه نا خبره وي. د پښتو له زړو ادبي کتابونو څخه نا آشنا وي. د پخوانیو استادانو په لار نه درومي، دوړ او ناوړ د خوښولو له پاره چې دغسې کسان څه لیکي هغه به هرومرو بې مزې، بې خونده او د پښتو له رنګ څخه ډېر لېرې وي.

په اوسني وخت کې کمزورو ژباړنو د پښتو په لیک ډول کې یوه ګډوډي پېښه کړېده. د مثال په ډول: په یو اخبار کې "لا ینقطع" په (نه شلېدونکی) ژباړه شوې وه. په دې ژباړه کې د پښتو رنګ څه چې د پښتو بوی هم نشته. داسې پښتو په تیرو پېړیو کې هم چانه ده ویلې، نو ځکه دې پلوته پوره پاملرنه او د پښتو په لیک ډول باندې لورینه پکار ده. اوس په اخبارونو کې له ښې او خوږې پښتو نه کړکېچنه پښتو ډېره شوې ده. په تېره کوم اخباري نیمګړی سبک چې مینځته راوتلی دی د پښتو له رنګ څخه دومره لېرې وتی دی چې پښتو ویل هم ورته ګران ښکاري، کېدای شي چې له پښتو سره مشابه یو شی ورته ووایو.

بل سبب یې د پوهې او مطالعې کمزوري او د معلوماتو نیمګړتیا ده. که چېرې نوی لیکونکی دغه دواړه کمزورۍ له ځانه لېرې کړي او پښتو ته د یو مسلک په سترګو وګوري او د یو امانت په توګه یې وروزي، نو هغه وخت کېدای شي چې پښتو لیک ډول له خرابۍ او ګډوډۍ څخه په امان پاتې شي:

۱- د یوه مضمون د لیکلو لومړۍ پوړۍ د موضوع او مطلب خوښول او غوره کول دي، یعنې ددې لارې لومړی قدم دادی چې یو لیکوال د لیکلو له پاره یوه موضوع وټاکي او هغه موضوع او مطلب په فکر کې ښه واړوي راواړ وي، که چېرې د یو مضمون په شا او خوا کې سړی غور او فکر ونه کړي، نو بیا د هغو له پاره ښه قالب او چوکاټ پیدا کول ګران دی. بې فکره یو مضمون لیکل داسې مثال لري، لکه سړی چې په سیند کې بې ګودره ور ګډ پرېږي.

۲- د موضوع له خوښولو نه وروسته پکار دی چې په ټاکلې موضوع کې پوره معلومات راغونډ کړل شي او له باوري مأخذونو څخه پوره مواد راټول کړي، ځکه چې بې له معلوماتو او کافي موادو څخه یو مضمون لیکل هسې په وچه ځمکه باندې لامبو وهل دي.

۳- ښایي چې یو لیکوال خپل مضمون په داسې ډول او رنګ شروع کړي چې له یوې خوانه په لوستونکي کې د مضمون د لوستلو شوق او له بلې خوانه پکې په کنایي ډول د مقصد او مطلب پلوشې وځلوي، یعنې په کار ده، چې مقدمه له مطلب سره ښې اړیکې او مناسبت ولري.

۴- د مضمون بنسټ باید ډېر پوخ، معقول او زړه راښکونکی وي، ښایي چې سریزه ډېره اوږده او ستړې کوونکې نه وي. په اوس وخت کې د اوږدو سریزو لیکلو دود له مینځه تللی دی او څوک سریزه نه لیکي او که یې لیکي نو هغه هم ډېره لنډه او ساده وي.

۵- یو لیکوال باید چې د موضوع او موخې له کرښې څخه د باندې ونه وځي، موضوع پرېښودل یا په یوه خبره کې بله را اچول یا له موضوع نه ډېر لرې وتل د لیکوالۍ په فن کې لویه کمزوري او ګډوډي ګڼل کېږي.

۶- د یو پاخه لیکوال له پاره د خپلې ژبې ادبي خپلواکي ساتل ډېر ضروري، بلکې لازمي خبره ده. هره ژبه ځانته رنګ، خوند او ادبي جوړښت لري، نو باید چې د نورو ژبو تر جغ لاندې رانه وستل شي.

۷- یو مضمون په داسې وخت کې لیکل په کار دي چې طبیعت په ټوله معنا تیاروي. فکر او بدن ستړی ستومانه، نه وي،

او که چېرې په وچ زور باندې یو څه ولیکو، په زړه پورې مضمون ترې، نه جوړېږي.

۸- په یوه جمله یا یو عبارت کې د یوې کلمې یا یو لفظ تکرارول او بیا بیا راوړل ښه صفت نه دی، دغه شان د تورو او اداتو تکرار هم عبارت بې خونده کوي او له ښایست څخه یې باسي.

(پوهاند صدیق الله رښتین)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې په تمرینونو کې د املاء او انشاء ښودل زده کوونکو باندې کار وکړي.
- زده کوونکي دې د پورتنیو لارښوونو په رڼا کې یوه لنډه مقاله ولیکي.

# ښوونکی

ښوونکی هغه څوک دی چې خپل عزیز عمر ستا په اصلاح، علم او هوښیارۍ کې صرفوي. او غواړي چې تا وپوهوي او قابل دې کړي او هغه خپل کمال او ادب تاته در وښيي.

ښوونکی ستا روح تر بیه کوي. مور او پلار ستا بدن، د ښوونکي حقونه ډېر او مرتبه يې تر مور او پلار لوړه ده. د ښوونکي په مخکې په ډېر ادب او تعظیم اوسه. ښوونکي په ډېرو زحمتو علم زده کړی دی، چې اوس يې تاته تعلیم کوي.

اې زده کوونکیه! که څوک تا ته څو روپۍ در کړي، یا یو لباس در وبښي څومره به يې ممنون يې؟ سره له دې چې هغه روپۍ به تمامې شي او لباس به زوړ شي، مګر ستا به تر ابده نه هېرېږي، همېشه به يې په ښو یادوې او تر ابده به يې منت وړونکی يې. ښوونکي تاته داسې دولت اولباس درکړی دی چې نه تمامېږي او نه زړېږي. ددغه لباس په سبب هر څوک په عزت او ښه نظر درته ګوري. هغه لباس

او دولت څه شی دی؟ کمال، ادب! باید په ډېر ښه شوق د ښوونکي هره خبره په زړه نقش کړې.

وایي چې امام اعظم(رح) په یو مجلس کې ناست و، یو هلک یې ولید ورته ولاړ شو امام صاحب وویل چې دا زما د استاذ زوی دی. یو وخت مې یوه مسله دده له پلار څخه زده کړې وه نو یې ځکه اوس د زوی تعظیم کوم.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د ښوونکي د حقوقو په هکله یوه لنډه مقاله ولیکي.

# نا خپلواک منفصل ضمیرونه

په پښتو کې غیر متصل (ناخپلواک) ضمیرونه هم شته چې ځانته شکل لري، خو د نورو کلمو له راوړلو پرته ځانته نه استعمالېږي، دغه ضمیرونه په لاندې ډول دي:

مې- مو: د متکلم له پاره.

دی- مو: د مخاطب له پاره.

یې: د غایب له پاره.

د استعمال په لحاظ دغه ضمیرونه د افعالو په آخر او مینځ او د نومونو په آخر کې راځي، مګر دلازمي افعالو او د ارتباط له اداتو سره نه استعمالېږي.

دغه ضمیرونه درې حالته لري: فاعلي، مفعولي، اضافي مګر فاعلي حالت یې په ماضي متعدي پورې او مفعولي حالت یې په امر حال او مستقبل پورې اړه لري، مثالونه یې دادی:

| فعلي حالت | مفعولي حالت |
| --- | --- |
| کتاب مې واخیست | ته مې چېرې بیا یې؟ |
| کتاب مو واخیست | دی مو چېرې بیا یې؟ |
| کتاب دې واخیست | زه دې له ځانه سره بیا یم |
| کتاب یې واخیست | زه مو له ځانه سره بیایم |
| | زه یې کورته بیایم. |

## اضافي حالت

کتاب مې راکړه- کتابونه مو راکړه - کتاب دې څه شو؟

کتابونه مو څه شول؟ کتاب مې ورک شو.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې په زده کوونکو بېلابېل نا خپلواک ضمیرونه په جملو کې استعمال کړي.

# مېرمن نېکبخته

د لسمې پېړۍ یوه پښتنه شاعره ده، چې په قوم مموزۍ او د شیخ الله داد لور وه او په (۹۵۱) هـ کال یې دشیخ (قدس الله) سره واده وکړ.

میرمن نیکبخته یوه عارفه ښځه وه، دیني علوم یې لوستلي وو او د "ارشاد الفقراء" په نامه یو کتاب یې په پښتو نظم لیکلی دی. اوس به د نوموړې میرمنې د یوې مثنوي څو بیتونه د بیلګې په توګه دلته وړاندې کړو:

په زړه ښادشې اې مؤمنـه! په ظاهر په باطن سـپینه
ظاهر زهد په اخلاص کـړه په زړه ټینګ شه له یقـینـه
شکر، صبر په هر حال کړه خود نمامه شه خـود بـینـه
شپه او ورځ به په ژړایـې که خبر شـې لـه سـجینه
سجین ځای د خود نما یه د بې نمـازو او بې دینـه
له هغه ځایه امان راکـړې یَـا اِلـهِ العَـالمـینَه

د مېرمن نیکبختې په پورتني شعر کې مذهبي رنګ په عالي توګه لیدل کېږي، خلک تقوی او دینداری ته رابولي.

# مناجات

ربه ته شـــي مهربان څه بـــه دې کـم شـــي
که را و ښښـــې عصيان څه به دې کم شي

د ابليس خبيث په دام کې بنـــدي پروت يم
له ما لېرې کړه شيطان څه به دې کـم شي

د صــاحب د مـــدينې پـــه روی ښښـــتنه!
پياله راکړه د زعفران څـه بـه دې کـــم شي

له ســـودا مـــې زړه زخـمي ذرې ذرې دی
که مـــې وکـــوې درمان څه به دې کم شي

زه بنـــدي يم ظــالم نفــس مې بنديوان دی
ورک له ماکړې بنديوان څه به دې کـم شــي

له غفلتـــه مې دماغ د زړه خـــراب شـــو
که راولېږې فيضان څـــه به دې کم شـــي

د رحمت وربځې دې ګرځي ښـکته پـورتـه

پرما وکـــړې څــه باران څه به دې کم شـي

که مې وســـاتې پـه ورځ د ځنکنـــدن کـې

را ته راکړې سپین ایمان څه به دې کـــم شي

ستا ددر پــه غـــلامـــانو کـې خاونـــده!

کړې قبول "بهايي جان" څه به دې کـــم شي

(اروا ښاد بهايي جان)

---

سپارښتنه:

- پورته مناجات په نثر واړوئ.

د نشه يي توکو پرضد مبارزې وزارت

د کوکنارو کښت او مخدره موادو قاچاق، تروريزم، اداري جرمونه او فساد غښتلی کوي او زموږ د ګران هيواد د ټولنيزې او اقتصادي بيا رغونې خنډ ګرځي.

کوکنارو کرل او نشه يي توکي کارول ستاسو کورنۍ او ټولنه له منځه وړي.

په نيشه يي توکو د روږدو خلکو د بدن مقاومت ضعيف وي او تل ناروغه کيږي.